د ابرار موئسسې درې میاشتنۍ خپرونه

دویم کال، پنځمه کګډه، ۱۳۸۲، زمری ـ تله/۲۰۰۳ جولایی ـ سپتمبر

ابرار د فعالیتونو لړۍ

په افغانستان کې دوه ډوله نظامونه نه شي چلیدای؛
دیکتاتور او غلام نظام "پیر سید اسحق ګیلاني"

د پوهاند صیب کګړه
او نور په زړه پورې مطالب

افغاني معیوبین هرمنځ ته ځي

ابرار

د ابرار مؤسسې دري مياشتنۍ خپرونه

په دې ګڼه کې

ګڼه	مخ
۱. سرلیکنه	۱
۲. د ابرار د فعالیتونو لړۍ	۲
۳. د معیوبینو لپاره د	۵
۴. دنړیوال شهرت لرونکي	۶
۵. پرېوتې څهرې	۸
۶. سور رود	۱۰
۷. مرکه	۱۳
۸. د لرغونو اساطیرو	۱۷
۹. افغانستان کې چاپېریال ته	۲۱
۱۰. سور شال	۲۳
۱۱. اندلس یا	۲۶
۱۲. د پوهاند صیب کڅوړه	۲۸
۱۳. لیکونه، ځوابونه	۳۰

ډیزاین: ذبیح الله "شفق"

د امتیاز خاوند:
د افغاني معیوبینو لپاره د بایسېکل چلولو او بیارغونې تفریحي موسسه (ابرار)

د تاسیس نېټه:
۱۳۸۱ل کال، د زمري میاشت.

مؤسس:
ډاکټر عبدالبصیر توریالی.

مسوول مدیر:
حفیظ الله تراب.

مرستیال:
عبدالناصر بریالی.

کتنپلاوی:
عمرا خان منیب او سید الیاس صداقت

پـــته:

په افغانستان کې:
د عامې روغتیا روغتون، جلال اباد، ننګرهار. تیلیفون: ۲۰۲۴

په کابل کې:
تایمني، سرسبزي چوک، دویم سرک، شیریزدان جومات ترڅنګ.

پېښور:
ابرار، جمرود روډ، یونیورسټي ټاون.
تیلیفون: ۰۹۱-۱۰۹۱۸۴۴۰۷۸
فکس: ۰۹۲-۰۹۱-۸۴۰۵۲۱

ډا لې د لیکوالو د لیکنو ننګه نه کوي.

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF ACKU
PROPERTY OF ARIC Established 1989

پرېوتې څهرې

د نن نه درې میاشتې مخکې ابرار موسسې د یوه داسې کار تکل وکړ، چې له یوې خوا نوی و او له بلې لوري له ستونزو او کړاوه ډك. نوی په دې و، چې له ډېرو کلونو راهیسې ددغه هنر ماشومه د هېواد د نورو فرهنګي ارزښتونو په څېر د ګډوډیو، خپلسریو او کورنیو جګړو په غشیو ژوبله ژوبله وه او چې داسې وه، نو د داسې ماشومې رغول او بیا یې خلکو ته د یوه ګل په څېر تازه ښودل، طبیعي خبره ده، چې څه اسانه خبره نه ده!!

هرڅه چې و، موږ ددې کار د بیا راژوندي کولو لپاره متې رابډوهلې او په داسې حال کې، چې ددې سفر لپاره مو نه لاره جوړه وه او نه مو هم نورې څه اسانتیاوې درلودې، په سفر پیل وکړ. موږ چې کله ددغې ازغنې لارې ستونزې او کړاوونه ولیدل، نو ګومان مو نه کاوه، چې ګنې خپل هدف ته به ورسو، خو رښتیا ده، چې لوی خدای د انسان خواري او زیار نه عبثوي او کله کله یې داسې خواږه په برخه شي، چې په خیال کې یې هم نه ګرځي، چې ژوندی ببلګه یې د پرېوتې څهرې تلوېزیوني ډرامه ده، چې د لومړي ځل لپاره په یوه اونۍ کې د ننګرهار له تلوېزیون نه دوه ځله نشر شوه.

دا چې نوموړې ډرامه لیدونکیو ولې خوښه کړه، دا د ښاغلیو لیدونکیو نظر دی، خو یوه خبره، چې نه یادول به یې له انصافه لرې وي، هغه دا ده چې ددې ډرامې په بریالیتوب کې د ډېرو نورو خلکو لاس هم دی، چې په دې ډله کې د ډرامې ډېر کارکوونکي او همدارنګه د ننګرهار راډیو تلوېزیون همکاري او مرسته برابره شریکه ده. موږ له هغو ټولو کسانو نه، چې په دې برخه کې یې په یوه نه، یوه بڼه موږ سره کړاو ګاللی، مننه کوو او ورسره له ټولو لیکوالو، چې په دې برخه کې ورتیا لري، هیله کوو چې هغوی هم د وخت ددې ارمنې غوښتنې د پوره کېدو (ډرامې) په برخه کې کوټلي ګامونه واخلي، ترڅو له دې لارې یې د خپل هېواد په بیارغونه او د افغان اولس په وېښتابه کې خپل اغېزمن مسئولیت ادا کړی وي.

په همدې هیله

د ابرار د فعالیتونو لړۍ

د روان عیسوي کال (۲۰۰۳) د جون د میاشتې په لومړۍ نېټه د ابرار موسسې په انګړ کې اکوپیشنل تراپۍ د معیوبو خویندو د اوومې دورې د فراغت په اړوند یوه غونډه جوړه شوه ،چې د قران کریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د غونډې د پیل وینا دابرار موسسې مرستیال ښاغلي عمراخان منیب وکړه ،چې داکوپیشنل تراپۍ اړونده چارې یې وستایلې او شاګردانې یې خپلو مسولیتونو ته متوجه کړې. هغه د خبرو په پای کې د اړونده څانګولو استادانو نه د زړه له کومې مننه وکړه.

د غونډې په دوهمه برخه کې دشاګردانو په نمایندګۍ محترمې خور ..... په خپلې شپږ میاشتینۍ دورې ،چې په ابرار موسسه کې یې تېره کړې وه، رڼا واچوله او دابرار له ادارې او له خپلو استادانو یې د زړه له تله مننه وکړه. هغې د خپلې وینا په پای کې دابرار څخه د معیوبو خویندو په اړوند د لاریاتې همکارۍ غوښتنه وکړه.

د غونډې دریمه برخه د اسنادو او د خیاطۍ دماشینونو د وېش وه ،چې د ابرار مرستیال ښاغلي عمراخان منیب او د نوموړې موسسې اداري مسوول محترم رضاګل خان په لاس باندې لسوتنو معیوبو خویندو ته دفراغت اسناد او هرې یوې ته یو پایه د ګنډلو ماشین له بشپړ سامان سره په وړیا توګه ورکړل شو. غونډه د عارف الله فرید په دعایه وینا پای ته ورسېده.

د نجونو د غونډې یوه برخه

د ابرار موسسې د مشرتم مرستیال عمراخان منیب وکړه ،چې خویندې یې خپلوراتلونکو مسوولیتونو ته متوجه کړې او په ورځنیو کارونو کې د ښځو په ونډه

همدارنگه د ابرار د فعالیتونو دوهمه لړۍ د قالین اوبدنې د لسو تنو یتیمانو او معیوبو شاگردانو لومړۍ شپږمیاشتینۍ دوره وه ،چې د روان عیسوي کال د جولای میاشتې په ۳ مه نېټه پای ته ورسېده او هر یو زده کونکي ته د قالین اوبدنې سامان او جیب خرڅ ورکړل شو.

درېمه غونډه د اوټ ریچ په ځانگه کې جوړه شوه،په دغه ځانگه کې چې ۶۰ تنه ښځینه شاگردانې یې لرلې، ۱۵ تنه یې معیوبې وې . د اخیستنې یې رڼا واچوله. نوموړې د خپلې وینا په پای کې فارغو خویندو ته د فراغت مبارکي ورکړه.

د غونډې په دوهمه برخه کې فریبا احمدي خپله وینا واورواله، چې د وینا اصلي موخه یې د نوموړې ځانگې د استادانو د ښو کارونو ستاینه او کور ودانی و. په پای کې یې شاگردانو ته د فراغت مبارکي وویله.

د شاگردانو له ډلې څخه طاهرې او فرزانې دوی د درېمې دورې د فراغت په مناسبت جوړه شوې غونډه، د قران کریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د غونډې د پیل وینا د

د غلې د ماین منیب په بنکاک کې

په ګډه ترانه وویله،چې د غونډې د برخه والو له خوا ډېره ونمانځل شوه.

وروسته د ډالیو او اسنادو ورکړه پیل شوه، چې د ښاغلي عمراخان منیب ،د ابرار د اداري مسوول محترم رضاګل خان ،استادې فریبا احمدي او استادې حبیبي له خوا توزیع شول.

پروګرام د ورځې په ۱۲ بجو د طاهرې خور په دعایه ویناپای ته ورسید. همدارنګه د معمول سره سم (۲۴) تنو معیوبینو ته بایسکلونه د ابرار موسسې د سرپرست محترم میا شمس الضحی لورین له خوا د یوې غونډې په ترڅ کې توزیع شول. باید یادونه وشي،چې تر اوسه په زرګونو بایسکلونه معیوبینو ته په وړیا توګه ورکړل شوي دي.

افغاني معیوبین جرمني ته ځي: د ابرار موسسې په هڅو دوه تنه معیوبین هر یو عبدالقاهر او محمد یوسف د ابرار موسسې د مشر ښاغلي ډاکتر عبدالبصیر توریالي په مشرۍ په راروانې میاشت کې جرمني ته ځي. دوی به د ماینونو په هغه نمایش کې ګډون وکړي، چې د فرانکفورت په ښار کې د ماینونو د قربانیانو لپاره جوړ شوی. دغه نندارتون به د اکتوبر پر پنځلسمه پیل او د همدې میاشتې پر دوه ویشتمه نېټه به پای ومومي.

مېرمن نګاټا د ابرار موسسې له مشر سره ولیدل: د روان عیسوي کال د سپټمبر د میاشتې پر (۱۵) مه نېټه مېرمن نګاټا د بنکاک د UNESCAP د معیوبینو د ټولنیزو چارو مشرې په داسې حال کې چې د بین المللي چارو مشاور ښاغلي ډاکتر ترمساني (Turmusani) هم ورسره و، په کابل کې د ابرار موسسې له مشر ښاغلي ډاکتر عبدالبصیر توریالي سره ولیدل. مېرمن نګاټا ته د ابرار موسسې د فعالیتونو په برخه کې لازم معلومات ورکړل شو، چې نوموړې په مینه واورېدل. همدارنګه هغې د پرېوتې څېرې د ډرامې ننداره هم وکړه او نوموړې ډرامه یې ډېره وستایله. Nagata په یوه رسمي سفر د دې لپاره کابل ته راغلې، تر څو معیوبینو ته د افغانستان په اساسي قانون کې هر اړخیزه ونډه ورکړل شي. نوموړې به دغه قوانین د جنوبي آسیا او پاسفیک هېوادونو په استازیتوب ملګرو ملتونو ته وړاندې کړي، تر څو د ملګرو ملتونو په راتلونکې پنځه کلن پرمختیایي پلان کې معیوبینو ته فعاله ونډه ورکړل شي.

د ابرار موسسې مرستیال له بنکاک نه راستون شو: ښاغلی عمراخان منیب د ابرار موسسې مرستیال د اوټاوا د تړون د هېوادونو د پنځمې غونډې نه، چې د روان کال د اکتوبر په ۱۹مه نېټه په بنکاک کې پیل شوې وه او تر ۰۳/۹/۱۹ یې دوام وکړ، تر ګډون وروسته راوګرځېد. په دغه کنوانسیون کې د معیوبینو پر ستونزو سربېره د ماینونو پر هراړخیز بندیز خبرې وشوې.

د خودبین سړي له ډېرې پاسلونې
خوله په لوړه چینګه ښه ده نه په سوال
"حمید بابا"
زیبایي یې د اشعار تر حنا زېب کا
د شیدا دېوان په لاس واخلئ خوبانو.
"کاظم خان شیدا"

ژباړن: عمرا خان منیب

د معیوبینو لپاره د مساوي او حقوقي قوانینو اهداف

د معیوبینو لپاره د مساوي فرصتونو قوانین د ملګرو ملتونو د معیوبینو لسیزې چې د ۱۹۸۳ - ۱۹۹۲ میلادي کال پورې یې دوام درلود، د همدې وخت د لاس ته راوړنو او تجربو نه په ګټه اخیستنې سره منځ ته راغلي. د بېلګې په توګه د انساني حقوقو نړیوال سند، د انساني حقوقو نړیواله اعلامیه، د اقتصادي چارو نړیوال کنوانسیون، ټولنیز او کولتوري حقوق، د ملکي او سیاسي حقوقو نړیوال کنوانسیون، د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون، د ښځو په ضد د تبعیض د ټولو بڼو له منځه وړلو کنوانسیون او همدغه راز د معیوبینو په اړه د نړیوال پروګرام د ملګرو ملتونو د معیاري قوانینو بنسټ جوړوي.

که څه هم ددغو قوانینو منل جبري بڼه نه لري، خو که یې یو زیات شمېر هېوادونه یې په ځان تطبق کړي، نو بیا د یو نړیوال قانون بڼه اختیاروي. همدغه معیاري قوانین دي، چې د نړۍ د یو زیات شمېر هېوادونو په استازیتوب د معیوبینو لپاره د غښتلي مورال او له سیاسي پلوه د مساوي حقوقو او فرصتونو غوښتونکي دي، برسېره پردې په نوموړو قوانینو کې مسوولیتونه، مهم اصول، اجرات او د معیوبینو په اړونده چارو کې د همکارۍ طرزالعمل پوره څرګندشوی دی. ددې تر څنګ د ارزښت وړ ټکي د معیوبینو د بشپړ ګډون په اړه په دغو قوانینو کې ځای شوي او ټینګار پرې شوی.

معیاري قوانین معیوبینو او د هغوی د ادارو لپاره د تګلارو په جوړولو او په نورو اړونده چارو کې د سمون لپاره یوه ښه وسیله ده، چې بیا همدا قوانین د ملګرو ملتونو، نړیوالو ادارو او دولتونو ترمنځ د همکارۍ یو اساس ګڼل کېږي. د معیاري قوانینو له جوړولو نه هدف دا و چې معیوبې نجونې، هلکان، ښځې او نارینه معیوبین د نورو په څېر د خپلو حقوقو نه ګټه واخلي. تر اوسه پورې د دنیا په ټولو ټولنو کې داسې ستونزې شته چې معیوبین د خپلو حقوقو او ازادۍ د لاس ته راوړلو نه منع کوي او همدغه ټولنیز خنډونه دې چې معیوبین د ټولنې سره یو ځای په ټولنیزو چارو کې پوره ونډه نه شي اخیستلای.

دا د دولتونو مسوولیت دی چې ټول هغه خنډونه له منځه یوسي، چې په ټولنیزو چارو کې د معیوبینو ګډون تهدیدوي، نو ځکه معیوبین او د هغوی ادارې باید د دولتونو سره په ملګرتیا کې یو فعال رول ولوبوي. د معیوبینو لپاره د مساوي فرصتونو پیدا کول یوه نړیواله هڅه ده، چې انساني سرچینې ددې کار د تر سره کولو لپاره په کار اچول کېږي. د معیاري قوانینو په کتنه دا قوانین د ښځو، ماشومانو، زړو خلکو، د مهاجرینو، غریبو مزدورانو، هغه اشخاص چې څو ګونې او یا څو ډوله معیوبیتونه ولري او نژادي اقلیتونو ((لږ کیو)) ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.

اخځلیك: د معیوبینو لپاره د ملګرو ملتونو معیاري قوانین.

د نړیوال شهرت لرونکي مېیوبین

قاضي سلطان محمود صلاح

ابان بن عثمان (رض)

ابـــــان د درېم راشـــــدخلیفه عثمـان(رض) زوی و. مـــور یـــې ام عمـــرو بنت جندب وه. دغـه مشـهور امـام عـالم او فقیه کوڼ و. سترګې یې کـرې او په پیس مرض هم اخته و. وروسته له مرګ نه یو کال وړاندې فلج هم شو.

ابـان لـــه دې نـــاروغیو او رنځونـــو سره سره د علـم او پوهـې پـه ډګر کـې د امامت درجې تـه رسېدلی و.پـه فقـه کـې امـام او د تـابعینو پـه ډلـه کـې د زبـات شهرت درلودونکي و. عمـرو بـن شـعیب یې داسې ستایي:

(زه پـه فقـه او حدیث کـې لـه ابـان بـن عثمـان (رض) نـه د زبـات علـم خـاوند نـه پېژنـم). پـه ۷۶هجري قمري کـال امـوي خلیفـه عبدالملـک دغـه مشـهور خـو معیوب عالم د مدینـې منـورې والـي وټاکـه. د ابـان جسـدي او بدنـي عیبونـه او رنځونـه د دې مهمې دنـدې د اجـراء مـانع نـه شـول.

پـه پـوره حکمـت او اهلیـت سـره یـې د ولایت چـارې پـر مـخ بېولـې او د ولایـت تـر څنګ به یې د خلکو تر منځ فیصلې هم کولـې او پـه خپلـه زمانـه کـې د مدینـې منـورې د لسـو مشـهورو فقـهاوو او علمـاوو په ډله کې شمېرل کېده.

ابـان بـن عثمـان (رض) وایـي: لـه پلار عثمان (رض) نـه مـې اورېدلـي، وایـي: چـا چـې د ورځې او شـپې پـه پیـل کـې دا لاندې دعـا ولوسته، هـېڅ زبـان او ضـرر بـه ورونـه رسېږي.(د هغـه الله پـه نامـه چـې لـه نـوم سره یې په ځمکـه او اسـمان کـې هـېڅ شی زبان نه شي رسولی). کلـه چـې ابـان (رض) فلـج شـو، نـو وبـې وبـل : قسـم پـه خدای چې په دې شپه مې دغـه دعـا هـېره شـوې وه او د الله تعـالی امـر نـافذ او اراده یې عملي ی شـوه.

دغـه فقیـه امـام د خپـل کـړاو او زحمـت لـه برکتـه د علـم داسـې مقـام تـه

اوچت شوی و، چې نوم یې هغه وخت د مدینې منورې د لسو مشهورو فقهاوو په لیست کې لیکل شوی دی. سربېره پر دې د ولایت دنده ورته سپارل شوې، قضاء یې کړې، خلک یې روزلي او داسې علمي کارنامې یې کړي، چې تاریخ به یې تل په زرینو کرښو کې خوندي ساتي.

یو وخت یې د خپل ولایت په دوران کې خلیفه (عبدالملک) ته ولیکل: عبدالله بن الزبیر (رض) په ځینو مسایلو کې فیصلې کړي دي، ستاسې نظر څه دی، دغه فیصلې عملي کړو، که څنګه؟ عبدالملک په ځواب کې ورته ولیکل: قسم په خدای چې موږ د عبدالله بن الزبیر (رض) د فتواګانو په هکله هیڅ اعتراض نه لرو، خو زموږ مخالفت په بل څه کې دی. زما لیک چې درورسېد، نو د هغه ټولې فیصلې عملي کړه؛ ځکه د فیصلو بدلول موږ ته ستونزې راولاړوي.

ابان بن عثمان (رض) د علمي ژوند تر څنګ خپل کورني او اجتماعي ژوند ته هم ښه او مناسبه پاملرنه کړې وه. له ام کلثوم بنت عبدالله بن جعفر سره یې واده کړی و او له اولادونو نه یې د عبدالرحمن نوم د یادولو وړ دی. نوموړی زوی یې ډېر عالم، زاهد او د حدیثو مشهور عالم و، چې زده کړه یې له خپل پلار نه کړې وه.

ابان د خپل عظیم پلار لاره روښانه ساتلې وه. د لوی همت او لوړې حوصلې مالک و. له مشکلاتو سره یې د مقابلې توان درلود. د علم او عمل دواړو اتل و. خواري یې ګالله او د ژوند ستونزو ته نه تسلیمېده. په کنو غوږونو او کړو سترګو یې دومره څه زده کړي وو، چې د زمانې د امام لقب یې ګټلی و. د ولایت مقام او قضاء دنده ورته سپارل شوې وه. په ۸۲ هجري قمري کال کې د مدینې له ولایت نه عزل او په ۸۵ کال کې وفات شو. (رضي الله عنه).

بندګاره دبندګۍ د
مدانګتې له
دوستۍ څخه چېره
بنده ده.

"امام جعفر صادق رح"

عبدالناصر بریالی

پرېوتې څهرې

په یوه اونۍ کې د جلال آباد له تلویزون څخه دوه ځله وښودل شوه

پرېوتې څهرې ډرامه چې ښاغلي حفیظ الله تراب لیکلې ده، په یوه اونۍ کې د خلکو د زیاتو غوښتنو له امله دوه ځله د ننګرهار له رادیو تلویزون څخه نشر شوه او تر اوسه هم لا ددغه ولایت د خلکو تنده ماته نده.

پرېوتې څهرې چې تقریبا ۸۰ ممثیلونو په کې کار کړی او د ننګرهار په ولایت کې ډکه شوې ده، دابرار موسسې په مشرۍ او د جرمني هېواد د میډیکو انټرنیشنل، کاریتاس او ډیاکوني موسسې په مالي مرسته په دوه میاشتو کې سرته رسېدلې.

نوموړې ډرامه چې یو ساعت او دېرش دقیقې اوږده ده، اصلي موضوع یې په معیوبیت ،او له معیوبینو سره په ټولنه کې د چال چلند په اړه څرخېدلې ده. ډرامه خپله د لیکوال په لاز ښوونه ډکه شوې ده، مطلب دا چې لیکوال یې په خپله هدایت کار هم دي

ډرامه له ډېرو ستونزو او کړاوونو نه ډک وخت کې ډکه شوې، چې ویل به یې دلته لازم نه وي او یا یې که ذکر وکړم، نو د لوستونکو لپاره به د وخت ضایع وي. د ډرامې په اړوند د ننګرهار د شاوخوا خلکو او په کابل کې د هغو خلکو، چې په خپلو ویدیوګانو یې کتلې ده، د

نمونې په ډول یې د یو څو تنو نظریات او غوښتنې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم:

د ننګرهار نه د بړو کلي اوسیدونکی (سید محمد) چې دغه ډرامه یې ترلاسه کړې وه اوپه خپل کلي کې یې د ویدیو له لارې کتلې، مونږ ته د ډرامې په اړوند داسې وویل: ډرامه ډېره ښکلې او په زړه پورې ده . مونږ په خپل کلي کې څو ځله پر له پسې وکتله . زمونږ غوښتنه له تراب صاحب او د ابرار موسسې څخه داده، چې دغه ډول نوښتونو ته دوام ورکړي او نه ستړې کېدونکي ګامونه کېږدي او په دې بسنه ونه کړي او په راتلونکې کې هم همدغسې په زړه پوري ډرامې ولیکي، تر څو دیوې خوا د خلکو لپاره تفریح شي او له بلې خوا ددغه وران

، ویجاړ هېواد او ټولنې په بیا ودانولو کې پوره مرسته او همکاري وکړي.

له سره رود ولسوالۍ څخه اقبال وایي چې: خوشبختانه په هغه شپه چې پرېوتې څهرې دجلال اباد له تلویزون څخه نشرېده، زما شپه په ښار کې وه. ډرامه مې ډېره خوښه شوه. له سر ه تر پایه ټوله ډېره په زړه پورې وه .په لومړي سر کې یې له خندا او هم ورسره له سوزه ډکې صحنې درلودې، خو وروسته یې بیا سړی خوشاله کاوه؛ ځکه د ډرامې د اتل (د دوست الله) ژوند په ښه کېدو شي. په ډرامه کې دوست الله ،محمدي دوکاندار او ځینې نورو ډېر ښه کار کړی دی، چې د ډېري ستاینې وړ دي. د ډرامې کیسه ما خپل کور کې وکړه، د کور د خلکو هم ډېره خوښه شوه . دکور دخلکو غوښتنه دا وه، چې هغوی یې هم یوځل باید وګوري، نو بیا مې یو څو ورځې وروسته له یوه دوست څخه ترلاسه کړه اوخپل کلي ته مې له ویدیو او تلویزون سره یووړه. په کور او کلي کې څو ځله خلکو ولیده. زما غوښتنه له لیکوالانو ورونو څخه داده ،چې هغوی دې هم همدغسې نوښتونه وکړي او له حکومتې چارواکو څخه مې دا غوښتنه ده، چې دغه ډول خلك وهڅوي، تر څو خپل کلتور لپلوه نور زیار او کار وکړي اوپردی ډرامې ،فلمونه او د پردي کلتور مخ نیوی وکړي.

په کابل کې حمیده خور چې د کابل د ابرار له دفتر څخه یې د ډرامې کیسې تر لاسه کړی و، وایي: ما ډېرې ډرامې ولیدې، خو پریوتې څهرې مې ځکه ډېره زیاته خوښه شوه ،چې د مکالماتو ژبه یې ډېره ساده او روانه ده او هم یې موضوع ډېره روښانه وه.په ډرامه کې ډېرې صحنې په زړه پورې دي ،خو ماته بیا د دوستي سرچپه په خره کېنول ،د ویالې مینځ ته توپ وهل ، د محمدي دوکاندار نڅا او چاپړوسي او د دوست الله د ورزش صحنه ډېره په زړه پورې وه. ډرامه ما په خپله کوڅه کې نورو همسایه ګانو ته هم ورکړه، هغوی په خپلو کورونو کې ولیده، چې زیاته ستاینه یې وکړه او مونږ ټول یې اوس د کابل د تلویزیون څخه د نشر لپاره په انتظار یو، چې کله به دغه ډرامه د کابل نور خلك هم ګوري. په پای‌کې د لیکوال نه ډېره زیاته مننه کوم او دلابریالیتوب په هیله یې یمه.

د کابل له خیرخانې مینې نه سیما خور ،چې په کابل کې ابرار دفتر ته په یوه ټیلفونې پیغام کې چې د پریوتې څهرې ډرامې لیکوال (حفیظ الله تراب) په باره کې را کړي و، هغې ویلې وو، چې هغه تېره شپه زه ویده وم ،چې د یوې نیمې بجې شاخوا کې زمونږ د همسایه ګانو په کور کې شور او غوغا شوه .مونږ په ډېره بیړه د کور د کوټو څخه د کور غولي ته و وتو، چې په ګاونډیانو خدای مه که څه چل وشو، خو کله مو چې ترې وپوښتل ،چې څه چل دی ؟ هغوی د خندا نه ډك ځواب کې وویل: خیر خیریت دی، یوه ډرامه مو راوړې ،چې په ننګرهار کې ډکه شوې ده. له خندا او ساعت تیری نه ډکه ده او سبا به یې تاسو ته هم درکوو، چې و یې ګورئ.

رښتیا هم چې ډرامه ډېره په زړه پورې،بریالۍ، له خندا او ساعت تیری نه ډکه وه . نو ځکه مې درته ټیلفون وکړ، تر څو ابرار او په ځانګړي ډول د ډرامې لیکوال محترم تراب صاحب ته مبارکي ووایم او هم ورته له لوي خدای (ج) د لازیاتو بریالیتوبونو غوښتنه وکړم.

میا شمس الضحی لورین

سور رود په بټیو کې کباب شو!

سور رود یا سرخرود د لوی ننګرهار د ولسوالیو څخه یوه تاریخي لویه پرمخ تللې ولسوالي وه، چې د جلال کوټ لوېدیځ لورته پرته ده. کوز سر یې د جلال اباد له ښار سره لږېدلې او بر سر یې وزیر ټټنګ پوری نښتی دی.

یو وخت دغه ولسوالي ډېره شنه او سمسوره وه. ټول کال به په شنو ښونو، راز راز میوه لرونکو او بې میوو ونو او د شنو فصلونو په کمبله کې پټ او حیا یې خوندي وه. دی سیمې یو وخت دومره غلې دانې، غنم او جوار، وریجې، مې او لوبیا کولې، چې که مبالغه و نه شي، نو ټول ننګرهار ته بس کېدل. ګوړه او ګنې خو یې لا پرېږده، چې څومره شهرت ور په برخه و. د ګران هېواد ټولو ولایتونو ته به له دې ځای څخه ګوړې او شکرې وړل کېدلې او د ډېرو خلکو خولې د چایو پیالې او حلوا ګانې به پرې خوږېدلې.

راز، راز سابه او نارنج باب خو به تل ورځخه نورو بازارونو ته په منډو منډو وړل کېدل. له دغو لارو به ډېرو سوداګرو، بزګرو او کارګرو ته کار په لاس ورته او خپلو کورنیو ته به یې پاکه او حلاله روزي ګټله. یو وخت که ټول سور رود لکه دینور، درونته، بګرامي، پورونه لکه شمشه پور، کټه پور او ملایم پور ددې له ویاړونو ډک هېواد تاریخ او تمدن د رازرغونېدلو، برسېره کېدلو او خپرېدلو ټاټوبی او ځانګو وه، نو بل وخت بیا د میافقرالله، صدیقیانو، کوښککیانو او پژواکانو د را ټوکېدلو او عروج ته د رسېدلو ټاټوبی او سیمه وه. په همدغه سره رود کې چارباغ و، چې ډېر غښتلي او نامتو د عظیم الشان قران کریم حافظان او قاریان یې ټولنې ته وړاندې کړل. نظراباد، شمشه پور او د بالاباغ درس تونونه وو، چې په سلهاو جید او مجاهد علما یې د مقدس دین او هېواد په واك کې ورکړل، خو افسوس چې همدغه ښکلي، سمسور، سور رود یو وخت د بمونو د چاودنو او اورونو په لمبو کې لولپه پولې، پولې شو. وتلي سرونه، باغونه، کلي او کورونه له منځه لاړل او هېڅ ورپاته نه شول او

څه چې اوس پاته دي، هغه د سره رود خاوره ده او ځمکه.

کله چې په دې ولسوالۍ د بمونو ،ټانګونو ناخوالې او تاړاکونه تېرشول، لږ څه ودانۍ سره بیامخ شو، مګر بیا بې رحمې وچکالۍ تر ګرېوان ونیوه، پر مخ یې څپېړې ورکړې او لاتر اوسه تردې څپېړو لاندې د ژوند وروستۍ شېبې شماري. دا چې له یوې خوا ددې ولسوالۍ مخ وچکالۍ او سره لمر وروسوځاوه. له بلې خوا یې اوس بېخ د خښتو بټۍ ورسوځوي. هغه وخت هم پرې تېر شو، چې د شنو باندو ،ښونو او پټیو په منځ کې به د ګوړو د بټیو دود په ناز او مکیز دهسك په لور له خیاله تاوېده راتاوېده. د ځمکو خاوندان او بزګران به ورته له ویاړه پخسېدل او په جامو کې به نه ځایېدل او داسې وخت هم پرې راغی، چې په بټیو کې سوځي ،نینې کېږي، د اه او فریاد بړاس او دودونو تر هره خوا لاړې کړي ،ټوله سیمه یې ککړه او توره تبۍ ګرځولې ده. له دې لړو سره چې د سرکونو او بې شمېره موټرو دوړې او ګردونه یوځای شي، خدای (ج) پوهېږي، چې څه ورځخه جوړېږي؟! داخبره سمه ده، چې و چکالي ده. کرهنه نشته، نو له ځمکې څخه باید ګټه واخیستل شي، خو داسې ګټه نه چې د تل لپاره له ګټې ووځي او دا رازرغونولو هغه ځواك چې خدای په ځمکه کې اچولی، په اور وسوځول شي.

هر څوك پوهېږي چې خلك بېکاره دي کارته اړتیا لري ،ځمکه نه کرل کېږي باید ټوله بټۍ ،بټۍ شي .مونږ ته په کار دي چې هم کار وکړو اوهم ګټه. دې ګټو ته باید لاړې پیداکړو. له چا و پوښتو چې څه و کړو، چې هم خرما وي او هم ثواب. مونږ تر اوسه داسې خلك نه لرو چې ترې و پوښتو، چې مونږ لومړی دا هېواد، زراعتي کړو، که صنعتي او یا که بله څه بلا ورته راپیدا کړو،خو باید خوښ واوسو، چې په بله نړۍ کې شته داسې خلك، چې ترې و پوښتو.

په کورونو کې یې ډوډۍ نشته. جامې نه لري ،کار نشته، په لوږه ګرځي، خو کورونه به له پخو خښتو او ښیښو جوړوي. (دپلار یې شړې لنګ ګوره ، او د لور یې باهو شرنك). سامان بهت هے ،روټي کچهـ نهي. څوك چې د څښلو اوبه نه لري، د سروزرو د جام څه مانا ؟ چې په کور یې د لوږې بلا مسلطه وي، د پخو خښتو کور به ورته څه خوند ولري؟! و به یې خوري او که وابه یې غوندي؟!. خو دا یوه خبره ښکاره او روښانه ده؛ هغه څوك چې ازلي پیسه دار دي، له نورو هېوادونو څخه هم خښتې او د ودانولو مواد راوړلای شي، هیڅ ستونزه نه لري. او هغه څوك چې ازلي خوار دي، خو خواردي، نو ابادي یې هم په نصیب کې نشته ، هر څوك که هر څه ته اړتیا لري، هرڅه ښه دي، خو په دومره افراط سره نه لکه دا قوم چې نن ورسره مخ دی.

مونږ مخکې یوه دعا کړي وه چې مونږ که خدای له داسې یو چا سره مخ کړي، چې لاړ راوښایي، نو چې غواړې، پرې واوړې، اوس

دادی داسې څوك په لاس راغلی او داسې لارښوونه یې راته وکړه چې:

تاسې اوس د خدای فضل دی، قوي حکومت لرئ،زښت زیات خارجي ملاتړي او دوستان لرئ. دملیاردونو ډالرونو مالکان یئ، نو که د خښتو په بټیو کې مو یو څو کارګر کار کوي، نو له بلې خوا مو په زرګونو بزګران له کاره لویدلي.هغوی هم انسانان دي. حق لري چې کار وکړي. بې له کاره دوی څرنګه ژوند کولای شي؟!.

زما سپارښت دادئ چې تاسې د سپین غره د یو تنګي په خیټه کې یوازې د یوه باران د سیلاب اوبه بندې او ذخیره کړئ، په ټول کال کې سرخرود خو لاپریږده، چې د ټول ننګرهار لپاره کافي شافي دي او بله لادا چې تاسې باید پوه شئ، چې اوس په نړۍ کې داسې مخ تللي وسایل شته چې ډیر سخت مسایل پرې ډېر اسانه کېدلای شي.

زما بله لارښوونه، چې ډېره د اهمیت وړ ده ، هغه داده چې تاسې د خدای په فضل داسې چار واکي لرئ، چې ښه ځواك او واك لري. تاسې یې پیژنئ ـ دا چارواکي هم په همدې ځای کې ځای ځایګی لري. که دې ته لږه پاملرنه هم وکړي، نو په اسانه یې کولای شي .که څوك دې ته اوس پاملرنه ونه کړي، په راتلونکې کې به ډېر خلك له ډیرو کړاوونو سره مخ شي. دا ځکه که سرخرود یو ځل په کندو او ګودرو بدل او سوړې، سوړې شو، خاوره ترې لاړه،بیا نو ګومان مه کوئ چې بله ولسوالي دې دومره خاوره ولري، چې دا تشې وردکې کړي. بیا به خاوره له بهر څخه که څوك یې درکړي، په بیه په یې اخلئ او راوړئ به یې، تر څو سرخرود یو ځل بیا شین رود وګرځوي، نو خبره داده ټول ضروري مواد چې له بهره راوړئ، نو خښتې هم راوړئ. دا څه د شرم خبره نه ده.

دا ځکه چې تاسې اوس دومره څیز د سونګ لپاره نه لرئ، چې چای وربانديې واپشوئ، نو دا خښتې به په څه پخوئ؟! دلمر په وړانګو او که په اټومي انرژۍ؟!.

زه لا هم تر اوسه په شك کې یم، دومره مطالعه مې نه ده کړې، نه پوهېږم چې دا خښتې د سونګ په کومو موادو پخېږي او له کومه راوړل کېږي؟ په راتلونکو کې مې که معلومات پیداکړل ، نو درسره شریك به یې کړم او تل ستاسې لار ښوونو ته حاضر یم.

> خښتن تعالی له شپږو شیانو کرکه لري، بلکې اوه شیان مکرو ګڼي لکه: کبرجنې سترګې او درواغجنه ژبه، هغه لاسونه چې د بې ګناه خلکو وینې بهوي، هغه زړه چې د فسادونو نوښتګر وي، هغه پښې چې د زیان رسولو په لاره کې چټکې وي، هغه شاهد چې په درواغو پیل وکړي او هغه څوك چې د ورونو په منځ کې د بې اتفاقۍ تخم کري.

درنو لوستونکیو!

ډالۍ دا ځل د افغانستان د ملي پیوستون د نهضت له مشر، د راتلونکو ټاکنو د جمهوري ریاست کاندید او د اسلامي جهاد له ځلاندې څېرې ښاغلي پیر سید اسحق ګیلاني سره مرکه کړې، چې تاسې یې لوستو ته رابولو:

پوښتنه: عزتمن آغا صاحب! په پېښور کې هغه مهال، چې جهادي تنظیمونه د سقوط په حال کې وو او یاهم غیرفعال ښکارېدل، تاسې د مهاجرینو د ستونزو په حل او همدارنګه مو په سیاسي برخه کې فعاله ونډه درلوده، خو کله چې د بن د کنفرانس په نتیجه کې اوسنی دولت منځ ته راغی، د خلکو د هیلو برخلاف ستاسې نهضت ته پکې ولې ونډه ورنه کړل شوه؟

ځواب_ د بن په غونډه کې څلورو خواو ګډون درلود؛ روم، پېښور، د شمال اتحاد او قبرس. زه د قبرس د استازیو له خوا ټاکل شوی وم. د قبرس غوښتنه، په افغانستان کې د یوه سالم منتخب نظام غوښتنه وه. د قبرس د غونډو مطلب دا و، چې هېوادوالو او نړېوالو ته وښیي، چې موږ د قدرت لپاره نه، بلکې د یوه منتخب نظام غوښتونکي یو. کله چې د روم او شمالي اتحاد تر منځ ډېر نږدېوالی پیدا شو او د وزارتونو وېش کېده، نو قبرس اعلان وکړ، چې موږ په نوموړي حکومت کې برخه نه اخلو. دا مو د هغه ویلو ثبوت و، چې پخوا یې موږ وعده کړې وه. دا چې د ملي پیوستون نهضت ته پکې ولې برخه ورنه کړل شوه، نو د نهضت له خوا هوري کوم استازی نه و او کله چې د شمال او روم تر منځ د قدرت وېش کېده، نو موږ په دې هیله چې دوی به په افغانستان کې یو سالم نظام راولي او قبرس به یې دعاګوی وي، په همدې بسنه وکړه.

: کله چې د لوستونکو ته ښاغلی پیر سید اسحق ګیلاني، د مرکې پر مهال

پوښتنه: په دې ورځو کې د افغانستان د نوي اساسي قانون لپاره هلې ځلې پېل شوي، ستاسې په فکر دا به ممکنه وي، چې په دې شرایطو کې چې اوس لاهم پر اولس ټوپک حاکم دی، یو رښتینی اساسي قانون به جوړ شي. آیا دا به ښه نه وه، چې د اوس لپاره یې هماغه اساسي قانون کې که ضرور وای، څه ترمیم کړی وای؟

ځواب: اساسي قانون د څراغ حیثیت لري، چې خلك پرې لار پیدا کړي. د بن د پرېکړې سره سم د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون باید نافذ وای، خو په خواشینۍ سره هېڅ تطبیق نه شو. همدارنګه دا پرېکړه هم شوې وه، چې نوی اساسي قانون به جوړېږي. په همدې اساس د محترم کرزي صاحب له خوا نه کمېسیون وټاکل شو. دا چې دې کمېسیون څومره واك درلود، زه پرې نه ګړېږم، مګر دومره وایم، چې دوی په دې ونه توانېدل، چې خلکو ته یې وښیي. ښایي ډېر ضعف ولري. په بن کې دا فیصله هم شوې وه، چې لومړی کابل او بیا ټول افغانستان بې وسلې شي، خو په خواشینۍ سره دا کار ونه شو. تر څو چې ټوپك د خلکو په لاس کې وي، زه فکر نه کوم، که له لویې جرګې نه نوموړی قانون پاس هم شي، د تطبیق وړ به وي.

پوښتنه: د طالبانو تر سقوط وروسته اولس ډېرې هیلې لرلې، خو یوه یې هم تر سره نه شوه، په داسې حال کې چې د ملاحظې وړ مرستې وشوې او لا کېږي. ستاسې په اند اصلي نیمګړتیا چېرته ده؟

ځواب: زما په نظر اصلي نیمګړتیا د بن د پرېکړو نه تطبیقول دي. که د بن پرېکړې په سهي توګه تطبیق شوې وای، کار اهل کار ته سپارل شوی وای، او د دې مرستو ښه مدیریت شوی وای، نو په یقین سره به یې د افغانستان د خلکو ژوند کې لوی بدلون راوستی وای. په خواشینۍ سره تر اوسه داسې عام المنفعه پروژه، چې د خلکو ستونزې حل کړي، نه ده جوړه شوې. د افغانستان د خلکو سرنوشت په NGO ګانو پورې تړل شوی، تر څو دا سرنوشت یوه انتخاب شوي نظام ته ورنه شي، تر هغې به پرمختګ منځ ته را نه شي.

پوښتنه: موږ وینو، چې د طالبانو نظام بشپړ رنګ شوی، خو یوه مرموزه بې ډاډي پر ټول هېواد خپره ده. ستاسې په اند دغه حالت به تر کومه دوام ومومي؟

ځواب: زه فکر نه کوم، چې د طالبانو تحریك به رنګ شوی وي. هېڅ تحریك نه رنګېږي. موږ ولیدل، چې د کمونستانو تحریك بیا راپیدا شو. طالبان هم د دې هېواد بچي دي او څوك یې له دې هېواده نه شي ویستلای. دوی ته باید په سیاست کې ونډه ورکړل شي. دا ښه ده، چې د وسله وال دښمن پر ځای سیاسي رقیب ولرو. په دې صورت کې د خلکو ډاډ حاصلېدای شي. جنګونه به کم شي. خلك به اسوده ژوند وکړي. کوشش دې وشي، چې سیاسي ګوندونه او سیاسي حرکتونه د راتلونکي جوړښت لپاره اغېزمن تمام شي.

پوښتنه: د ملي پوځ د جوړېدو کار ډېر په ورو روان دی، که چېرې رښتیا هم موږ د ملي یووالي هیله من یو، دا به ښه نه وي، چې دولت پخواني افسران جذب او نوي وروزي؟

ځواب: ملي اردو د افغانستان لپاره د ملا د تیر حیثیت لري. کوم ملك کې چې ملي پوځ نه وي، نو د هغه پولې هر وخت د خطر سره مخ وي. د بن د پرېکړې له مخې په اردو باید ډېر فشار واچول شي، تر څو یوه غیر سیاسي اردو جوړه شي. له ملي اردو نه باید په داخلي شخړو او جنګونو کې کار وانه خیستل شي، ځکه دا عمل یو ځل تکرار شوی. د کمونستانو په وخت کې پرې خلك بې باوره شوي. ملي اردو باید له ټولو قومونو پرته له کوم توپیره جوړه شي او هغه افسران چې په رښتیا هم افسران وي، باید راوغوښتل شي، تر څو نظامي روزنه په واقعي توګه پېل شي. دې کې شك نشته چې مجاهدینو او د افغانستان خلکو بې ساري قرباني ورکړې. زما په نظردا ویاړ د همدوی لپاره کافي دی او باید اجر یې له خدایه وغواړي، نه دا چې قدرت او کرسۍ وغواړي.

پوښتنه: د هېواد راتلونکې ته څومره هیله من یاست؟

ځواب: د افغانستان راتلونکې د خلکو پورې اړه لري، چې څومره د یووالي او اتحاد مظاهره کولای شي. څومره پر یو بل اعتماد کولای شي. تر هغې چې دا روحیه ژوندۍ شوې نه وي، د یوه سالم او با ثباته افغانستان تمه بې ځایه ده. پردي به موږ ته ډېر شنه او سره باغونه وښیي، دوی به زموږ د هېواد د ارامولو لپاره دلته وي، خو دا وطن به افغانان پخپله جوړوي. د دې د ودانۍ او قربانۍ لپاره به دوی خدمت کوي او چې کله یې تعلیم د ښځو او نرو لپاره عام کړ، نو په داسې وخت کې به بیا موږ هیله من یو، چې هېواد کې مو ارامي راشي.

پوښتنه: که ستاسې نهضت سیاسي واګي تر لاسه کړي، نو کوم ډول حکومت به جوړ کړئ او همدارنګه معیوبینو ته به څه وکړئ؟

ځواب: تاسې به خبر یاست چې د افغانستان د ملي پیوستون له خوا زه دافغانستان د ملي زعامت لپاره کاندید شوی یم. دا د دې لپاره نه ده، چې موږ قدرت تر لاسه کړو، بلکې زموږ هیله دا ده، چې په تېرو (۲۵) کلونو کې موږ لاسپوڅي نظامونه لرل، موږ غواړو، چې قدرت باید افغانانو ته وسپارل شي. په افغانستان کې دوه ډوله نظامونه نه شي چلېدی؛ یو دیکتاتور او بل غلام نظام. د افغانستان د انتقالي دولت یوه دنده دا هم وه او ده، چې د افغانستان له خلکو نه دا پوښتنه وکړي، چې دوی څه ډول نظام غواړي؟! آیا دوی خلافت غواړي، امارت، مشروطه شاهي، مطلقه شاهي، جمهوریت او کوم ډول جمهوریت؟! دا موضوع لاتر اوسه هم په تیاره کې ده او خلك په راتلونکې نه پوهېږي. که زموږ نهضت د خدای (ج) په غوښتنه او د هېواد د خلکو په ملاتړ قدرت ته ورسېږي، نو لومړۍ ترجیح مو د هېواد بچو ته ښوونه او روزنه، د کرهنې پیاوړي کول او د افغانستان کومې زېرمې چې تر اوسه لاځای پر ځای پرتې دي او هېواد ته ستري اقتصادي ګټې لري، د

هغې نه د افغانستان د ودانۍ لپاره ګټه اخیستل دي. تر څو هېوادوال مو هوسا او له سوال نه خلاصون ومومي. همدارنګه هغه څوك چې په ماینونو الوتي او یا هم په جهاد کې کې معیوب شوي، دوی د هېواد د سر تاج دي. د دوی ساتنه، د دوی عزت، دوی ته په درنه سترګه کتل او دوی ته د خودکفیله ژوند برابرول، به زموږ له لومړنیو کارونو نه وي.

پوښتنه: اوس که د یوې شخصي پوښتنې اجازه راکړئ، خوښ به شم او هغه دا چې تر اوسه مو د خوښۍ او خپګان شېبې کومې وې؟

ځواب: د خوشالۍ ورځ مې هغه وه، چې روسان له هېواده افغانانو وشړل او د خپګان ورځ مې هغه وه، چې افغانان ونه توانېدل، چې یو ملي اسلامي نظام جوړ کړي.

پوښتنه: په پای کې که د ډالۍ مجلې په برخه کې خپل نظر څرګند کړئ، نو مهرباني به مو وي؟

ځواب: ډالۍ ما لوستې، ډېره ښه منځپانګه لري. وایي، چې په شیدو کې څومره غوړي ډېرېږي، نو نعمت الله تري جوړېږي، نو وړاندیز مې دادی، چې څومره د لویو او ښو لیکوالو او شاعرانو مطالب پکې خپاره شي، نو لابه ښه شي.

_ آغا صاحب! ډېره مننه، چې له بوختیاوو سره سره مو موږ ته د مرکې لپاره وخت راکړ.

_ تاسې نه هم مننه.

هما "صدیقی"

سوال وجواب اعرابی از رسول الله (ص)

س: مردی عرض کرد، میخواهم داناترین مردم باشم.

ج: حضرت فرموده : از خدا بترس.

س: میخواهم از خاصان درگاه باشم.

ج: حضرت فرموده:شب روز قران بخوان.

س. میخواهم همیشه دل من روشن باشد.

ج. حضرت فرمود که مرگ را فراموش مکن.

س. میخواهم در رحمت حق باشم .

ج.حضرت فرمود: با خلق خدا نیکی کن.

س. میخواهم از دشمن به من افتی نرسد.

ج.حضرت فرمود: همیشه توکل به خدا کن.

س.میخواهم در چشم مردم خوار نباشم.

ج. حضرت فرمود: پرهیزگارباش.

س.میخواهم روزی من وسیع باشد.

ج. حضرت فرمود: همیشه با وضو باش.

س. میخواهم عمر من طولانی باشد.

ج. حضرت فرمود: صله رحمی کن.

س. میخواهم به اتش دوزخ نسوزم.

ج. حضرت فرمود: که چشم و زبان خود رابند.

س. میخواهم سنگین ترین مردم باشم.

ج. حضرت فرمود: از کس چیزی مخواه.

س.میخواهم مال من بسیار شود.

ج. حضرت فرمود: مراجعه کن به سوره مبارکه (واقعه) شب.

پوهنیار عبدالوحید

دلرغونو اساطیرو اتل افسانوي ښامار

که چېرې د طبیعي پېښو څخه د تر لاسه شویو پایلو ته پاملرنه وکړو، داسې انګېرل کېږي، چې نوموړې پېښې د افسانو د منځ ته راتلو لامل ګرځي، مګر په هر صورت د دې افسانو په هره یوه کې د حقیقت یوه ځلا پرقېږي، چې پوهنیزې نښې زموږ په واک کې راکوي. د بېلګې په ډول کامیکازه چې په ۱۳مه پېړۍ کې د خدایانو د مرستې په نامه یادېده، د زورورې بېړبوکۍ نښه ده. کله چې د چنګېزخان لمسي کوبلای خان پر جاپان یرغل وکړ، د کیوشو Kyushu په ختیځو سمندرغاړو کې او د هاکوزاکي Hakozaki پر خلیج د دوی او جاپاني پوځ تر منځ سخته جګړه ونښته او په پای کې مغولي پوځیانو ماتې وخوړه، خو د پېښې څخه شپږ کاله وروسته کله چې د دویم ځل لپاره مغولانو بیا پر جاپان یرغل وکړ او په دوو میاشتو کې د جاپان سمندرغاړې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستې، په دې وخت کې اسماني بېړبوکۍ یا کامیکازه د هوا په څپو یون وکړ او د مغولانو لښکر یې د ټولو شتو سره تارومار کړ.

په یوه بله افسانه کې د یوه امپراطوز کونډه چې جینګو Jingu نومېده، د کور یا د ځمکو د تر لاسه کولو لپاره یې له پټو سمندریځو قوتونو څخه ګټه واخیسته. کله چې کونډه د سمندریز توپان له امله نابودېدو ته نږدې شوې وه، د سمندر له اوبو څخه غټ غټ کبان د ده مرستې ته د اوبو سره ته راووتل او دوی یې روغ رمټ خپل وطن ته بېرته ورساوه. په همدې ترتیب په ډېرو افسانو کې د ښامارانو څخه یادونه شوې ده.

تر اوسه هم په جاپان کې د ښامار Dragon په هکله چې په سمندر کې اوسېږي، ګروهمن شته دی او د لرغونو اساطیرو په کچه هغه ته ارزښت ورکول کېږي. په جاپان کې ښامار د غوسې او زور ښکارندوی دی، خو دې ټکي ته باید پام وکړو، چې د ښامار د ارزښت په هکله د لوېدیزوالو او ختیزوالو تر منځ ډېر زیات توپیر وجود لري. لوېدیزوالو ته ښامار د بدیو، زیان کاریو او د وینې د تویولو استعاره ده، خو ختیزوال یې مرسته کوونکی، هوډمن، پیاوړی او هوسناک ګڼي.

د چین په اساطیرو کې ښامار یا Lung د توپانونو غلی کوونکی او د سمندري دېوانو نابودونکی ګڼي او زورورو توپانونو ته د ښامار د غوسې په توګه کتل کېږي. له میلاد څخه درې پېړۍ مخکې یو چینایي لیکوال په خپله لیکنه کې د ښامار داسې ستاینه کړې:

(ښامار د بشریت لپاره مرسته کوونکی عامل دی، چې ډېر لږ څرګندېږي... مګر د بارانونو په اورولو او د بادونو په الوزولو کې یې لاس دی، چې انسانان کولای شي، چې نوموړې لاسوهنه وګوري).

یو بل چینایي پوه داسې لیکي: (ښامار له اسمانونو سره اړیکې لري. کله چې په زوره زوره ساه باسي، باران اوري او کله چې خپل وزرونه خوځوي، بړبوکی منځ ته راځي. ښامار د اور شیندونکو غرونو له څوکو څخه مخ په اسمان الوځي).

د چینایي افسانو په وینا د سمندرونو په نړۍ کې څلور ښاماران اوسي. له همدې کبله چینایان د قطب ښودونکو پر مخ د اصلي لوریو د ټاکلو لپاره د ښامار عکس په بنسټیزو لوریو رسموي. په لټ سمندر باندې حاکم ښامار د (لي لونګ) په نامه یادوي. وایي چې نوموړی په سمندر کې د ډوبو شویو بېړیو د پیسو او نورو شتو په تر لاسه کولو سره تر او بو لاندې ځانته ښایسته ماڼۍ جوړه کړې ده او هلته اوسېږي.

د سوزوهوا (Suzhoa) په نامه تر سمندر لاندې د ښامار ماڼۍ ته کېدای شي، چې ذد بې موتوره بېړۍ په وسیله په شپږو ورځو کې ورسېږو، مګر د دې ماڼۍ او د جاپان د سمندرغاړې تر منځ سمندر داسې څپ څپانده دی، چې هېڅ ډول بېړۍ نه شي کولای، چې د تلو تکل وکړي. وایي، چې له نوموړې ماڼۍ څخه ډول ډول غږونه اورېدل کېږي. ښامار د ورځې ځان تر اوبو لاندې پټوي، مګر د شپې د اوبو سر ته راوځي او د ځلانده لمر په څېر د اوبو پر مخ پاچاهي کوي. ښامار چې له سترګو او خولې څخه رڼا خپروي، ټوله ساحه روښانه کوي. خو ځینې پوهان په دې هکله داسې فکر کوي، چې په سمندر کې د ښامار ماڼۍ یو اورشیند دی او د هغو نورانې څپو په هکله چې د ښامار له خولې څخه مخ په اسمان لیدل شوي دي، وایي چې دا د یوفو (Ufo) یا د ځمکې له کرې څخه د بهر تمدنونو نښې دي.

له میلاد څخه ۲۶۰۰ کاله مخکې کومې کلیزې چې د چینایانو په وسیله کارول کېدې، په تمثیلي ډول دولس ځناور لري. هغه ژوي چې په یو چینایي کال کې وجود لري، عبارت دي له: موږك، غوایي، پړانګ، سوی، ښامار ، آس، مېږه، بیزو، چرګ، سپي او اېږې څخه.

په نوموړو ژویو کې یوازینی حیوان چې له پوستکي او هډوکو څخه جوړ شوی نه دی او همدارنګه تر ننه پورې یې موجودیت عملاً ثابت شوی نه دی، له ښامار څخه عبارت دی.

چینې کارپوه ډاکټر ډینیس (Dr.N.B.Dennys) د ښامار د ځای ځایګي په هکله چې چینایان یې ګروهمن دي، وایي: (په دې کې هېڅ شك نشته).

د ښامار له غاښونو څخه چینایي طبیبانو د پښتورګو د تیږو، نس ناستي، تبې، مرګیو، د غړو د راټولېدو او داسې نورو ناروغیو د تداوۍ لپاره کار اخیسته. هغه پوډر چې د ښامار له هډوکو څخه جوړېده، د فلج، ښځینه ناروغیو، دانو او د ماشومانو د نامه د غوټې د ضد عفوني کولولپاره کارول کېده.

چینایانو د ښامار سره خپلې اړیکې تر اوسه پورې په هماغه ډول ساتلي دي. وارنر .E) (Warner په خپل کتاب (د چین اساطیرو پانګه) چې په کال ۱۹۳۲ کې له چاپه وواته، وایي: (د ۱۹۳۱ کال د مې د میاشتې د کیانګ سي Kiyangsi د ایالت د سېلاب لامل هغه ښامار و، چې د کان Kan په سیند کښې لیدل شوی و). وارنر زیاتوي: (د چینایي اساطیرو څخه

څرګندېږي، چې ۲۰۰۰ کاله دمخه هم د هو پو Ho-po د سیند ښامار د سیمې د ښایسته پېغلې لپاره هر کال ځان ښکاره کاوه). داسې غوسې تر ننه پورې د ښامار د غوسې د کرارولو لپاره سمندرونو ته ډالۍ کېږي.

په جاپان کې ښامار د تاتسو Tatsu او یا هم د ریو Ryu په نامه یادوي او په دې ګروهه دي، چې ښامار د سمندرونو او سیندونو څښتن دی. په جاپاني افسانو کې هم د ښامار لپاره د قربانیو یادونې شوې دي. هغه څه چې د ښامار د موجودیت لامل ګرځېدلي دي، و هغه ته یې سپېڅلتیا ښبلې ده. سور رنګه وړانګې چې د سمندرونو د اوپو پرمخ او کله هم د ځنګلونو څخه مخ په اسمان د تګ په حال کې لیدل شوي دي. د یوې هندي افسانې سره سم نورانې وړانګه له ځنګله څخه د غره د څوکې په لوري حرکت کاوه او هلته د یوې ونې په منځ کې ځای پر ځای کېده. نوموړې ونه د ښامار د ډېوې په نامه یادېږي. د بودېزم د مذهب بنسټ اېښودونکي (سیداتها) چې په بودا Bodha یادېږي، هم په ځنګله کې د همداسې نور په لیدو سره د پرخې خاوند شو.

اوکاکورو- کاکوزو Okakoro_kakuzo د (رود) په کتاب کې د ښامار په هکله داسې لیکلي دي: (ښامار د متغیره ارواح څخه عبارت دی او د سمندرونو په ژورو برخو کې قرار لري... کله چې حرکت وکړي، هوا توفاني او سمندرونه څپانده شي... هر کله چې وغواړي خپل وزرونه ومینځي، ګردابونه جوړېږي، غږ یې په زورورو توپانونو کې اورېدل کېږي... ښامار یوازې هغه وخت ځان ښکاره کوي، چې ټول ژوندي جسمونه له منځه لاړ شي).

کېپتان فېرت Captain Firth چې کله په ۱۹۰۲ کال کې د جاپان په سمندرګي کې د شیلاګو Chillagoe د بېړۍ سره حرکت کاوه، د ښامار په لیدلو بریالی شو. نوموړی د ښامار اوږدوالی لس متره ښیي، چې څلور وزرونه یې لرل.

په سمندر کې د ښامار د لیدلو بل رپورټ د جاوا Java په نامه د یوې هالینډۍ بېړۍ چلوونکي په واسطه په کال ۱۹۰۶ کې ورکړ شو او د زوندل Zondel په نامه د ېوې بلې بېړۍ په واسطه د هغه تائید وشو.

په کال ۱۹۶۷ کې د نستور Nestor د بېړۍ د کارکوونکو په واسطه چې د شانګهای په لوري یې حرکت کاوه، د ښامار د لیدلو خبر خپور شو. په همدې ترتیب په ۱۹۷۷ کې د جورجیا د بېړۍ د کارکونکو په وسیله چې د رنګون په سمندري اوبو کې یې حرکت کاوه، ښامار لیدل شوی و.

د اطلس په سمندر کې هم په کال ۱۹۷۷ کې د سانتاکلارا Santa clara یوناني بېړۍ د کارکونکو په وسیله چې جان اکسل سون John Axelson او جان ریګني John Rigney نومېدل، ولیدل شو. اکسل سون په دې هکله وایي: (څرنګه چې موږ په خپلو سترګوباندې ښامار ولیده، نو اوس یې په وجود ګروهمن یو). خو کله چې د بېړیو چلونکو او نورو کسانو په وسیله کوم سمندري ژوی، چې د ښامار په نامه لیدل شوی، ښامار نه، بلکې د پلسي اسار Plesiosaur او کله هم د کویلاکانت Coela. canth او کومبسا Kombessa د ژوو له ډلو څخه وي. نوموړي ژویو شپېته میلیونه کاله مخکې له میلاده ژوند کاوه. د پوهانو په اند د دې ژویو ار بایده دی، چې څو سوه کاله مخکې په ټولیز ډول له منځه تللی وي. په سمندر کې د ناپېژندل شویو ژویو د موجودیت عملي ثبوت چې د ځینو

اوږدوالی تر پنځوس مترو او دروندوالی یې تر څو ټنو پورې رسېږي، د پوهانو فکر بدل کړ. پروفیسور سمېت Smith prof. د رودز Rhodes د پوهنتون استاذ ډاکټر اسحق ګنسبورګ Dr.Issac Ginsburq د واشنګټن د موزیم د کبانو متخصص، کېپتان میک کامېس Captain Mc Camis نامتو سمندر پوه، ایوان ساندرسن د نیویارك د پوهنتون پروفیسور، مارجوري لایت نر Marjory Latiner او نورو نامتو سمندرپوهانو په وسیله ناپېژندل شوي ژوي چې د کب نیونکو او بېړۍ چلوونکو په وسیله لیدل شوي دي، عکسونه یې اخیستل شوي او یا هم پوهانو ته ژوندي رسول شوي دي، چې تر څېړنو وروسته پېژندل شوي او د دوی د ژوند تاریخي دوره مشخصه شوې ده. ذد بېلګې په ډول د پلسي اوسار ژوي شپېته کاله میلیونه کاله له میلاده مخکې ژوند کاوه. پنځه څلوېښته متره اوږدوالی، توربخن شین رنګ او څو سوه ټنه دروندوالی یې درلود. د پوهانو په اند نوموړي ژوي د کرتاس د دورې د بارانونو په مهال په ټولیز ډول یا له منځه تللي دي او یا هم د سمندرونو په تل کې خوندي شوي دي.

د رومیانو په یوې هدیرې کې د یوه سمندري حیوان په خوله کې د حضرت یونس (ع) تصویر نقاشي شوی دی، چې پخوانیو پوهانو نوموړی حیوان تمساح یا نهنګ باله، مګر تر کومه ځایه چې د اوسنۍ پوهې په وسیله ثابته شوې، نوموړی حیوان تمساح نه، بلکې په پوره ویسا یو پلسي اوسار دی.

هغه حیوان چې د سمندریز ښامار په نامه د یو کب نیونکې بېړۍ د کارکونکو په وسیله نیول شوی و، او یا هغه چې په کال ۱۹۶۹ کې د الوین Alvin د اوبتل د ماهوګانو د مشر کېپتان مېك کامېس ولید، نه یوازې له تاریخ څخه د مخکې ژویو ژوندي پاتې کېدل ښیي، بلکې د ښامار د افسانوي حیوان پر شتون چې د ټولو د حیرانتیا لامل ګرځېدلی دی، تاکید کوي.

په پخوانیو دورو کې له خلکو سره دا عقیده موجوده وه، چې د سمندر په تل کې ښامار په سوریو کې ویده دی او ځان ته د ټکان په ورکولو سره زلزله منځ ته راوړي. د خارق العاده ځناور شتون د نړۍ په ډېرو برخو کې کې عملاً ثابت شوی دی. ځینې پوهان له همدې ټکي څخه په ګټې اخیستنې د شمالي نیمې کرې جغرافیایي ۶۰ درجې عرض البلد د خارق العاده ژویو د مېشتېدنې ځای ګڼي.

د فسادونو سرچینه بېکاري ده، هر حکومت چې غواړي په خپل هېواد کې د فسادونو جړې وباسي، د خلکو لپاره دې کار پیدا کړي.

د چاپېریال د ساتنې د چارو د پرمختګ او د هېواد د ودې لارې

پوهیالي حکم خان (حبیبي)
دارتیکلچر او ځنګلونو د څانګې استاد

لوی خدای د طبیعت نظام په داسې شکل خلق کړی دی چې د اجزاو تر منځ یې یو طبعي تعادل پروت دی او کله چې دغه تعادل له منځه ځي، نو د هستوګنې پر چاپېریال باندې ناوړه اغېزې اچوي، د بېلګې په توګه، که وګورو او فکر وکړو، نو وبه وینو چې په طبیعت کې د ټولو اوسېدونکو ژوندیو موجوداتو ژوند د لمر په وړانګو پورې تړلی دی، خو انسانان او حیوانات نېغ په نېغه ددغه وړانګو څخه استفاده نه شي کولای، تر څه نباتات دا نورې انرژۍ په کېماوي انرژۍ بدله کړي او بیا له همدې تهیه شوې غذا څخه انسانان ،حیوانات او حتی خپله نباتات استفاده کوي، خو که الهي حکمت او د طبیعت تعادل ته وګورو، نو وینو چې په یوازې ځان دلمر وړانګې هم نشي کولای، چې د دومره لوی عالم لپاره غذا تهیه او ترتیب کړي ، تر څو ورسره اوبه، معدني مواد او نور کېماوي مواد نه وي موجود ، خو په هر حال راځو دې خبرې ته چې د چاپېریال موضوع په نننې عصر کې داسې منزلت لري، چې نورې موضوع ګانې دهغې درجې اومنزلت ته نه شي رسیدلی او نه یوازې دا چې د چاپېریال پوهانو پاملرنه یې ځان ته راګرځولې ده،بلکې د بشري ټولنې د هر فرد او وګړي توجه یې ځان ته جلبه کړې ده.دا پټه نه ده،چې هغه چاپېریال ،چې انسانان په کې د لومړۍ ورځې څخه هست او پېدا شوي دي. له همغې ورځې راپدېخوا په هر هغه (انسان) مهربان ، دهغه د روغتیا او سلامتیا ملګری او د هغه د ژوندانه د وسایلو ضامن دی، خو متاسفانه ،چې بشریت او نننې تمدن ددې پر ځای چې چاپېریال،چې د خیر مصدر وګرځوي، هغه یې د شر مصدر وګرځاوه. د دې پر ځای چې هغه په یوه مصئون ځای بدل کړي، هغه یې د مرضونو منبع وګرځوله او انسانانو ډېر ژر د هغې ونې مېوه وخوړله،چې په خپله یې کښېنوله. د تېر څوارلس کلن جهاد او لسن کلنې کور ګډې جګړې په اوږدو کې افغانستان او د افغانانو چاپېریال ته نه تر سره کېدونکې زیانونه او ښتې دي. نباتي موزیمونه ، باغونه ،ځنګلونه او څرځایونه له منځه تللي دي،کلي ،کورونه ،ښوونځي ،پوهنتونونه او روغتونونه په لړ او یا بشپړ ډول رنګ شویدي. فرهنګي میراثونه لکه موزیمونه ،ارشیفونه ، کتابتونونه او داسې نور چور او تالاشویدي او یا سوځول شویدي، چې رغېدل یې سلګونه کلونه غواړي.

ځنګلونه او څرځایونه چې د چاپېریال په ساتنه کې اساسي رول لري، د دوو لسیزو په جګړو کې د نیمایي څخه زیات له منځه تللي او په نتیجه کې مو هوا ککړه ،خاورې مو تخریب،د باران اوربدو اندازه کمه او د ویجاړونکو او هیبت ناکو سیلابونو سبب ګرځیدلي دي. ددې په څنګ کې یې که

اقتصادي اړخ مطالعه کړو، نو وبه وینو،چې د لرګیو صنعت،کاغذ جوړونې ،توریزم او ښاري استوګني ته هم نه اټکل کېدونکي زیانونه اوښتي دي . څړ ځایونه چې دملي اقتصاد دخپلواکۍ ضمانت کوي او د هېواد ۵% فیصده عاید د همدې څړ ځایونو له برکته و، له منځه تللی او لاهم د منځه تللو په حال کې دي. وحشي حېوانات چې د ایکو سیستم مهم جز دی، د انقراض او له منځه تلنې په حالت کې دی اوکه چېري خدای مه کړه دا لړۍ همداسې جریان پیداکړي، نو پاتې لږ شمېر وحشي حېوانات،پاتې ځنګلونه او څړځایونه به هم په چټکه توګه له منځه لاړشي. د سیلابونو د ډېروالي له امله مو خاورې تخریب شوي دي او زراعتي ځمکې مو په شاړو او خوړونو بدلې شوي او هوا مو د خاورو او دوړو د طوفانونو دلاسه ذناروغیو منبع ګرځېدلې ده، چې په انسانانو کې یې مختلفې تباه کونکې ناروغۍ رامنځ ته کړي دي. د صنعت د چټك پر مختګ په نتیجه کې د فابریکو او بټیو فضله موادو هوا داسې ککړه کړې چې زیانونه یې نه اټکل کېدونکي دي او بالاخره د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې په نه هېریدونکي جګړو د وسلو بې درېغه استعمال داسې ورانۍ او ویجاړونې رامنځ ته کړي، چې د تاریخ کرښې به یې تر عمره هېرې نه کړي، نو ددې لپاره چې ټول پورته ذکر شوي کارونه د طبیعت د نظام د ګډوډېدو سبب ګرځي او ددغه نظام ګډوډي د تمدونونو د زوال، د اقتصاد د وروسته پاتي والي ،دغربت د زیاتېدو ، د ناوړو اعمالو د رامنځ ته کېدو او بالاخره د انسانانو د مرګ سبب ګرځي، نو ضروري ده چې د بشري ټولنې هر وګړی ددغه نظام په ساتنه کې هڅه او هاند وکړي او هغه خپل مسولیت وبولي.

زمونږ شا خوا ټول موجودات چاپېریال په برکې نیسي،یا په بل مفهموم ټول موجودات چې زمونږ شاخوا لیدل کېږي، چاپېریال ورته ویل کیږي .داسلام مبارك دین د نن نه ۱۴ پېړۍ وړاندې د آدم د سورت ۶۱ نمبر ایات کې د چاپېریال د عواملو او هم یې د هغه د ناوړه عواقبو په هکله خبرداري ورکړي دي او دا ددې لپاره چې انسانان خپلو اعمالو ته چې په وچه او بحر کې یې اجرا کوي، متوجه وي او ناوړه اعمال تکرار نه کړي.

په عمومي توګه چاپېریال په دوو برخو ویشل شوی، چې یو یې ژوندی محیط او بل یې غیر ژوندی محیط بلل کېږي، چې په ژوندي محیط کې انسانان ،حېوانات ،نباتات او کوچني ذره ایيز اجسام ،چې په سترګو نه لیدل کېږي، شامل دي او په غیر ژوندي محیط کې اوبه ،خاورې ،هوا او تیږې شاملې دي خو چاپېریال پوهانو په دري برخو ویشلي دي:

۱. ژوندی محیط (بایو سفیر) : چې انسان ،حېوانات ،نباتات او کوچني ذره بیني موجودات په بر کې نیسي.

۲. غیر ژوندی محیط (اتمو سفیر): لکه هوا ،هایدرو سفیر لکه اوبه او لیتوسفیر لکه خاورې او تیږې.

۳ . فرهنګي محیط : چې له انسانانو سره د انسان او له فرهنګ سره د فرهنګ اړیکې او ارتباط څېړي.

البته د مضمون د زیاتېدو له مخې اوس په همدې لیکنه بسنه کوم او انشا الله پاتې برخه به یې د همدې مجلې په بله ګڼه کې چاپ شي.

عبدالناصر بریالی

سوړ شال

لنډه کیسه

ګلاب او ځانګې به د کور تر مخې میدانې کې له یوه او بل سره په ډېره مینه او محبت لوبې کولې. کله به چې د ځانګې پلار (مامور سیدګل) له خپلې دندې څخه کورته راغی، نو خپله ګرانه لور ځانګه او وراره چې به یې ولیده، نو په ډېرې خوښۍ به یې دواړه په غېږ کې ونیول او سینې ته به یې را نژدې کړل. هغه به خپله ټوله ستړیا او ستوماني په دې هېره کړه.

مامور سیدګل چې به کله نا کله له ښاره له ځانه سره څه راوړل، نو د ګلاب برخه به یې هرو مرو پکې کوله. هغه د خپل ولایت په مرکز کې مامور و.

مامور سید ګل د خپلې دندې ډېر پابند و او د خپل کلي او ولس په خلکو کې د یوه ښه نوم خاوند و. هغه سره ټولو کلیوالو ډېره مینه لرله او د اولس هر سړي به په ډېر درانه نظر ورکتل.

دا ځکه چې هغه به د کلیوالو په هر غم او ښادۍ کې شریك و. په هر غم او درد کې به یې ډېرې منډې ترړې وهلې. نو همدا سبب و چې هغه به تل هر کار کې غوښتل کېده او مشوره به ورسره کېده. په همدې ډول به په دفتر کې هم ټولو مامورینو په ډېر عزت او د یوه رېښتینې کارکونکي په سترګه ورته کتل.

د خدای (ج) کارونه وو، چې ځانګه او ګلاب ورو ورو لویېدل او د سیدګل د غټو هیلو او ارمانونو څخه یو ارمان د خپلې ایکې یوې لور (ځانګې) او د هغه د وراره (ګلاب) واده و.

خورښتیا چې تدبیر د تقدیر په مخکې د شګو بند وي. ځانګې او ګلاب په دغه عمر کې یو له بله سره ډېره مینه لرله او له یو بل څخه به یې بېلتون داسې و، لکه چې څوك اوبه به ډانګ بېلي کړي.

یو به چې بل ولیده، نو په سترګو کې به یې د خوښۍ نښې له ورایه ښکارېدې. دوی به د محبت څخه په ډکو سترګو یو بل ته کتل او د مینې څخه په ډکه سیمه کې به ورځ په ورځ د غاټول او نرګس د ګل په څېر نور هم تازه او غوړېدل.

ګلاب چې د څلورم ټولګي زده کونکې و، پلار یې (اکرم) یو بېوزلی او خوار بزګر و. هغه چې څومره زیار او زحمتونه ګالل، نو هغه د خپل زوی (ګلاب) دښې ښوونې او روزنې لپاره وو.

کله به چې ماښام سترې ستومانه له کاره کورته راغی، نو ګلاب به د پلار د راتګ سره سم زر زر خپل د ښوونځي کتابونه را واخیستل. پلار به یې چې ولید، نو له ډېرې خوښۍ نه به یې من من غوښې اخیستې او ورته ویل به یې، چې شاباس بچیه! ډېر ډېر کوښښ کوه، که زر خدای (ج) له دولسم ټولګي څخه

خلاص کړې، نو د شین ګل ماما لور دې درته کوم.

ګلاب به له دې خبرې سره سم د خزان وهلې پاڼې په څېر ژیړېده او رنګ به یې هم ورځ په ورځ خرابېده.

هغه خپل ماشوم زړه د ځانګې په مینه بایللی و او دا یې غوښتل چې د خپل ټول ژوند ملګري یې ځانګه شي او تر مرګه له یو بله جلا نه شي.

خو د ثور تورې ګډوډۍ له راتګ سره سم په هېواد کې زیات بدلونونه او ډول ډول کړاوونه مینځ ته راغلل.

کلي او کورونه رنګ، باغونه خزان، تر دې چې غرونه او رغونه په خپل حال پاتې نه شول.

مامور سیدګل چې د کمونستانو په دې تورونو ونیول شو، چې هغه اشرارو (مجاهدینو) ته د شپې ډوډۍ او ځای ورکوي. نو دد غو تورونو له امله هغه ته د لسو کالونو د سیاسي بند سزا واورول شوه.

دهغه د بند خبر چې په کلي کې خپور شو، نو په ټول کلي کې یوه غلبله جوړه شوه.

د کلي هر سړي به د هغه د کور په لوري منډې وهلې او غوښتل به یې چې د هغه د بند په باره کې څه معلومات تر لاسه او په خبره ځانونه پوه کړي. هغه ولې بندي شوی؟ کوم جرم یې کړی؟

خلکو به یې د بند پوښتنه له سپین سرې مور، (رڼا) ترور نه، چې د مامور سیدګل یوازینۍ اسره، وه کوله.

هغې به په ژړغوني اواز کې ځواب ورکړ: (بچینه! زه نه یمه خبره، خدای (ج) پوهېږي. هغه خو هېڅکله داسې بد له چا سره نه و، کړي، چې هغه دې پرې بندي شي.

ځانګې به د خپلې نیا سترګو ته کتل او د مرغلرو په څېر سپینې اوښکې به یې په شلېدلي ګرېوان راتللې او د خبل ګران پلار هغه وعده به ور یاد ېده، چې (بچې! دا جمعه چې کورته راځم، نوخامخا به له ځان سره تاته له ښاره سور شال راوړم. سور شال ځانګې د یوې بلې کلیوالي جنۍ په سر د اختر په ورځ لیدلی و.

هره جمعه به یې چې د پلار د راتګ وخت شو، نو له ډېرې خوشحالۍ به د لارې په سر د پلار د راتګ او د سره شال د راوړلو په انتظار ولاړه وه.

د کلي ماشومان به یې هم خبر کړي وو، چې زما پلار نن راځي او ماته د پاولۍ د سور شال غوندې، شال راوړي. خودرېغه چې پلار یې په تنخاه کې دنورو ضروري غوښتنو له کبله دا کار نه شو کولی.ا

کله چې به یې پلار راښکاره شو، ځانګې به ورمنډه کړه او د سره شال پوښتنه به یې ترې وکړه؛

پلار جانه زما سور شال دې راوړی؟ هغه به په ځواب کې ورته وویل. (لورې! راروانې جمعې ته به یې درته خامخا راوړم!).

د کلي د هر سړي دا غوښتنه وه، چې له هغه (مامور سیدګل) سره زندان کې وګوري او په هر بیه چې وي، هغه له بنده راخلاص کړي، خو هغه یو سیاسي بندي و، تر دې چې د تشو لیدو اجازه یې هم چاته نه وه.

کلیوالو چې څومره کوښښونه د هغه د خلاصون لپاره وکړل، څه نتیجه یې ورنه کړه.

مامور سیدګل د زندان په تورو کوټو کې راز راز ستونزې ګاللې د هغه لپاره یوازینۍ مشغولا د ځانګې او ګلاب د زیړو مازیګرونو لوبې وې. چې مامور سیدګل به د فلم د تصویرونو په څېر په خیال کې لوبولې او د خپلو ستونزو او کړاونو

نه د ډك بند ترخه او بد ساعتونه به یې پرې تېرول او دا به یې له ځان سره ویل: که خیر وي، هغوی به دواړه ځوانان شوي وي. د بند له خلاصېدو سره به د دواړو کوژده کوم.

د زندان ترخه ساعتونه او بدې ورځې چې ساعت یې د ورځې او ورځ ېې د کال څخه هغه ته کمه نه وه، تېریدل. اخر دا چې هغه ورځ راغله، چې د یوه عسکر له خوا پرې زېری و شو.

هغه په ډېره بیړه له ټولو بندیانو څخه خدای په اماني واخیسته او په تلو تلو کې یې نورو ټولو هغه بندیانو ته د بند څخه د خلاصیدو دعاګاني وکړې.او چې کله د زندان له دروازې څخه ووت، نو ټولو بندیانو پسې په ژړا سترګې سرې کړې وې.

د څانګې سره د څو کالو د سره شال د وعدې پوره کولو لپاره دیوه هندو دوکان ته ورغی. په لږ وخت کې یې له هغه څخه د ښار او دشاوخوا سیمو په برخه کې،چې کمونستانو پکې بې شمېره ظلمونه او تېري کړي وو،خبر شو.

د لور سور شال یې د دوکان څخه راواخیست او د کلي د هډې په لوري په ډېره بیړه رهي شو. تر څو د خبل کلي پ. ه موټر کې کېني .د څو د قېقو څخه وروسته هډې ته ورسېد. هغه چې کله وکتل، نو هډه شاړه وه. له ډېرې مودې راهیسې د کمونستانو د تېري له کبله د ښار او نورو سیمو اړیکې شکېدلې او له شاوخوا څخه موټرې نه راتللې. د خپل کلي پر لور یې پیاده مزل شروع کړ. ځای په ځای به یې بمبار شوي کلي او کورونه لیدل. د څو ساعتونو تر مزله وروسته خپلې پلرنۍ هدیرې ته په رسېدو یې په هدیره نظر شو. به هدیره کې نوي جنډې په رپېدو وې.

د بمبار شوي کلي بڼه بدله او له ډېره غمه ډکه ښکارېده. بیا هم هغه د خپل کلي په هکله د پخوا په څېر فکر کاوه.

د ماښام مهال و. تیارې لږ لږ خپل تور څادر غوړولی و، چې په ډېري خوشالۍ چې د څانګې سور شال یې په لاس کې نیولی و د خپل کور دروازه یې وټکوله او له ټك ټك سره هغه دا فکر کاوه چې ګوندې څانګه به ورته دروازه بېرته کړي ، خو له دې سره رڼا ترور راغله، دروازه یې ورته پرانیسته او د ډېرې مودې له بنده را خلاص شوي زوی ته یې د خوشالۍ په ځای په چغو او سورو هر کلی ووایه.

د څانګې او ګلاب او د کلي د نورو شهیدانو د مرګ له خبر سره سم سیدګل چې د څانګې سور شال یې په لاس کې نیولی و، د هدیرې په لوري منډه کړه. د څانګې او ګلاب ، قبرونو ته په رسېدو یې له خولې بې واکه چغې ووتې او د شال پر ورغوړلو او د هغوی د نومونو د یادولو سره یو ځای یې په قبرونو ور ولوید او تر څو چې رڼا ترور تسل ورکاوه، نو هغه خپلې زړې هیلې او نوي امیدونه بیا نیمګړي او نیمه خوا ګورته وړي وو.

د بشر دوستۍ او ټولنیزې ښېګڼې لپاره یوه شېبه فکر کول د اوبا کاله دوه مخي عبادت څخه ښه دی.

اسدالله میاخیل

اندلس یا د مسلمانانو ورک شوی فردوس

اندلس یا د نړۍ پرمخ د اروپا پر لور د مسلمانانو دروازه، اندلس یا اوسنۍ اسپانیه او پرتګال د اروپا په جنوب لوېدځ کې پروت یو ملک و، چې درې لوریو ته یې د سمندر سره سرحد درلود. دغه هېواد د طارق دغره او د طارق د ابنا په واسطه جلا شوی دی. دیوې ښکلې او معتدلې هوا درلودونکی دی. په دغه ملک کې هم د نړۍ د نورو ملکونو په شان داسلام څخه د مخه پاپېزم او رهبانېزم مسلط وواو په ښکلي اندلس بې یوه توره تیاره خپره کړې وه. د هغوی جهالت دومره و، چې د انسان ظاهري چټلتیا او پلیتي یې د داخلي او باطني صفایی نښه بلله.

هغوء د مخ وینځل یو نه ښوونکي جرم ګاڼه، ځکه یو راهب وایي: په خپل عمر کې مې د خپل مخ د مینځلو ګنا نه ده کړې. هغوی ویل چې انسان څومره زیاته ظاهري چټلتیا ولري، باطني صفایي ئې هم هماغومره زیاته وي

هلته د ظلم، تېري، شراب خورۍ او زنا بازار ګرم واو بالاخره اندلس ددغې تورې تیارې څخه هغه وخت راووت، کله چې د هجري لومړۍ پېړۍ خپلې وروستۍ سلګۍ وهلې، او اخري کلونه یې بشړکول، داسلامي خلافت لخوا د افریقې فاتح موسی بن نصیر ددغه ملک په لور قوماندې شو. داسلامي لښکر دغه قوماندان هم د قتیبه بن مسلم په شان یو نه ماتې پیژندونکی سر لښکر و. قتیبه د خراسان د ټولو ښارونو فتحه بشپړه کړه، نو ځکه موسی د المغرب پر لور د خپلو لښکرو سره ګړندي ګامونه واخیستل.

د افریقې د هېوادونو فاتح د اروپا خاورې ته د ورداخیلېدو هوډ وکړاو خپل سرګروپ، طارق بن زیاد یې د المغرب څخه اندلس ته قوماندې کړ.

په الله توکل کوونکی سپاهي د بحر څخه پورېوت او خپلې ټولې کشتۍ یې د پردي ملک د سیند په غاړه وسوځولې، تر څو یې د تېښتې لاره نه وي. لاهوري اقبال یا د شرق نابغه په خپلو فارسي اشعارو کې د طارق کړنه ستایلې، دهغه د اشعارو دپښتو مطلب داسې دی:

طارق د اندلس د سیند په غاړه کشتۍ وسوځولې، ملګرو یې ورته وویل: دا کار دې سهوه وکړه مونږ به د تېښتې وخت کې اویا د بېرته تلو په وخت کې په څه پوریوځو؟ خو طارق وایي، نه دا زمونږ ملک دی، ځکه هر ملک چې د الله (ج) ملک وي، هغه زمونږ ملک دی!

په رښتیا چې طارق په خپل هوډ کې بریالی شو او اندلس یې فتحه کړ. اندلس د اسلام په نور وځلېداو رڼایي ټولې اروپا ته خپره شوه.

دلته اسلامي تمدن وده وکړه او ټوله اروپا ترې اغېزمنه شوه او ولې به ترې نه اغېزمنه کېده؟ دلته د قرطبي تفسیر او تاریخ لیکوال زېږېدلی. د تاریخ او فلسفې فیلسوف ابن خلدون د همدې سیمې دی. ابن حزم الظاهر هم د اندلس دی او نور داسې شخصیتونه په دې

ملك کې راټوکېدلي، چې نومونه يې اوس هم په تاريخ کې ثبت دي او د ليکنو څخه يې اوس هم اسلامي امت ګټه اخلي.

د کېميا دعلم زده کړه لومړی په همدې هېواد کې منځ ته راغله او باروت هم دلته کشف شول.

مسلمانو فزيک پوهانو دلته دامعلومه کړه، چې ځمکه د جاذبې قوه لري. داهغه ملك و، چې لومړی ځل پکې د غرناطې، اتېبلې او قرطبې پوهنتونونه جوړ شول او د ټولې اروپا څخه ورته نجونې او ځوانان راغلل، تر څو په مختلفو هنرونو کې خپلې زده کړې بشپړې کړي.

اندلس کې د اسلام په راتګ سره طب دومره ترقي وکړه، چې په لومړي ځل مسلمان طبيب ابوالقاسم الزهراري دمثانې تيږه و ويستله او دسترګې بريالی عمليات يې وکړ. ساعت د لومړي ځل لپاره په همدې ملك کې جوړ شو. ښه نو، د دنيا په سر د غه جنت، چې د اته سوه کاله څخه زيات پکې اسلامي بيرغ رپانده و،څه شو او ولې؟.

ددغه ملك نوم، د هغه د ښکلو ښارونو نومونه له اسلامي امت څخه هېر دي، يوازې مونږ يې کله د شهکار ناول ليکونکو په ناولونو کې افسانوي نومونه اوکيسې لولو. د اردو ژبې ناول ليکونکي مرحوم نسيم حجازي د شاهين نومي کتاب يې مونږ ته نومونه رايادوي او د ابتسيلي قرطبي او غرناطې کوڅوکې راته چکر راکوي. دغه کتاب افغاني ليکوال زبير شفيقي پښتو ته ژباړلی، الله (ج) دي دواړو ته اجر ورکړي.

دغه ملك د خپلو مشرانو، عالمانو او ځوانانو په واسطه له منځه لاړ. مشران يې عياش شول، ځوانانو يې د اسلام سره علاقه کمه کړه او علماو يې تبليغ پرېښوده.

اسلامي شهامت او فداکاري ختمه شوه، روحي ماتې ټولو وخوړه. يو طرف قوي روحي ماته، بل لوري ته پياوړی دښمن کمين کې ناست و. د مسلمانانو تر منځ اختلافات د ماتې بل سبب و. د قحطاني ،عدناني ،بربري او عربي قوماندانانو ترمنځ اختلافات راپيداشول.مسلمانانو د مسلمانانو په ضد د نصاری څخه مرسته وغوښته. ابوالحسن د ثريا په نامه نصرانۍ په نکاح کړه، تر څو د قستالي د نصاری څخه د خپل وراره الزغل پر ضد مرسته واخلي.

دښمن فکري جنګ تيز کړ. په زرګونو مبشرين يې د مسلمانانو منځ ته را ولېږل. نصاراو په سلګونو استادان په مختلفو طريقو د مسلمانانو مدارسو کې مقرر کړل. پاپانو په لکونو روپۍ لګولې، تر څو شراب خانې جوړې کړې او مسلمانان يې لکه د اوسنۍ زمانې، په عياشيو بوخت کړل.

او بالاخره د وليدبن عبدالمالك په زمانه کې فتح شي اندلس د لسمې پېړۍ په ورستيو کې نصاراو ونيوه او داسلامي امت څخه يې دغه لاس غوڅ کړ.

اوس هم دښمن کوشش کوي، چې په روحي ماتې خوړونکو مسلمانانو همداسې نورې کانې وکړي.

اسلامي امت يوځل بياموسی بن نصير او د نن ورځ ټېکنالوژۍ ته اړتيا لري. هغه د دمشق نه راستون شو. ددېرشو فتحه شويو ملکونو د بادشاهانو زامن ورسره تر څنګ باډيګارډان او غلامان را روان وو.

عبدالملك د دمشق مسجد کې د جمعې خطبه ويله، قوماندان خپل د دېرشو ملکو د شاهانو د زامنو څخه جوړ ګارډ د خليفه يو لوري ته په سلامۍ ودرول. د اروپا څخه راستون شوي اتل دځان سره دېرش زره بندیان راوستي وو.خليفه د الله (ج) حمد وايه. د باتور قوماندان په هکله يې خلکو ته وويل،چې دده د قواوو احترام وکړي.

روح دې يې ښاد او سوکاله وي.

حفیظ الله تراب

د پوهاند صیب کڅوړه

زه چې اوس هم خپله څه چې د بل چا په لاس کې کومه خلته یا کڅوړه ووینم، نو له واره مې په زړه داسې یو څه وشي، لکه یو وړوکی ماشوم چې د یو شي په لیدو بې واره او تلولی شي. زه ښه پوهېږم چې په اوس وخت کې هرراز کڅوړې زموږ په ژوند کې ډېر ارزښت لري، خو چې کله مې په خپل لاس کې کومه خلته ، یا کڅوړه وي، نو له ځانه مې بوږن کېږي او چې تر کوره رارسېږم، نو داسې انګېرم، لکه پوهاند صیب چې مې په کڅوړه کې اچولی وي. په ټوله لاره کې مې د هغه د کڅوړې کیسه داسې سترګو ته درېږي:

په هغه سهار په ما ناوخته و. زر زر مې ږیره برېت وخرییل. چایو ته مې هم صبر ونه وکړ، خو کله چې مې د کور د وره په درې پښه کېښوده، له دې سره د ټېلیفون زنګ راغی.

_ هېلو!

_ هېلو!

_ ګل آغا سره خبرې کوم!

_ هېلو پخپله ګل آغا یم!

تردې وروسته، چې مې ملګري راته څه وویل، نو په یو او دوو کې حیران پاتې شوم. ډېرې ورځې کېدې، چې د ناروغتیا له امله کار ته نه وم تللی. نن نو داسې ورځ وه، چې که نه وای تللی، نو ورسره له کاره هم شرل کېدم. یو ځل خو مې زړه کې وویل، چې راځه مه ځه، خو بیا راته په دې پرېکړه ځان ناځوانه ښکاره شو. زه هم ګرم نه وم، په لوېدیزه نړۍ کې پرته له کاره ژوند کول ډېره ګرانه ده.

په موټر کې چې کېناستم، نو د پوهاند صیب، څېره، خوږې اوتللې خبرې، لنډه داچې هر څه مې سترګو ته نښغ ودرېدل. سره له دې، چې هغه ډېره زده کړه په بهر کې کړې وه، خو بونډۍ ږیره، پنځه وخته لمونځ او شنه مزارۍ جېلکه یې هغه څه وو، چې دهغه مینه یې له خپل کلتور سره ښودله. پوهاند صیب به هر وخت په خپلو خبرو کې د هېواد ډېر څه په مینه یادول او تر ټولو به دې ډېر ځوراوه، چې ولې یې له یوې بهرنۍ سره واده کړی!! د هغه له همدې ښځې دوه زامن هم وو، چې هغه پرې دومره زړه نه تاړه. سره له دې چې هغه د جنت په څېر یوې مانۍ کې اوسېده، خو زه چې به کله د هغه پوښتنې ته ورغلم، نو دومره به خواشینی و، لکه په یوې سارا کې چې چا لېوانو ته یوازې پرېښې وي. د هغه له خبرو دا معلومېدل، چې په خپل کور کې ورته چا د پلارولۍ یا مېړه ولۍ په سترګه نه کتل او چې کله مې یوه ورځ د هغه د ناهیلۍ په برخه کې ډاډ ورکړ، نو په مات زړه یې راته وویل:

نور په ۳۲ مخ کې

شعرونه

محمد صدیق پسرلی

غزل

سحر چې پرخې د ګلشن له ګل وخاره ژړل
ګل له ګلچینه او بلبل د ګل لپاره ژړل

اوښکې یې مه ګڼه سیلاب شو د زغم بند یې یووړ
زړه کې تپاکو چې د عمر له آزاره ژړل

خپلې جلوې هم کله اور شي د حسینو پورې
بېګاه چې شمو په محفل کې تر سهاره ژړل

یوازې موږ نه یوو چې تږې یوو د ورور وینو ته
څپو څپو نه سر واهه، سین له ابشاره ژړل

په دې سپېرې ستمکدې کې وېش تر وسې دی کار
تار له مضرابه او نغمو را ته له تاره ژړل

ګېډۍ د ګلو له باغونو بېغمانو یووړې
زموږ په برخه لکه وره، وو له بهاره ژړل

کاشکې چې وګڼي دا هم یو کمزوري د مینې
که پسرلي ورته د مینې له اظهاره ژړل.

خوشال خان ختک

بنځه

بنځه بویه هوسناکه، خنده رویه، مهرژنه
پاکیزه په زیست روزګار کې په بنه خوی باندې مینه

د صحبت په رموز پوهه، زړه یې خلاص له مکر روهه
کم خوراکه، خوش پوشاکه، همېشه ناسته دننه

په وصال د یار خوشاله، یار یې خوښ له قیل وقاله
چې له یاره نه جدا شي، هم غمژنه، هم خیرنه

له نېکانو همنشینه، له بدانو په زړه خوړینه
له موروالي یې توبه کا، که یې مور وي دروغجنه

د مېلمه په کار حاضره، په پخوالي بهادره
حق د چارې په ځای راوړي، په رنځور باندې پوښتنه

پاکیزه یې د کور صحن، نه په غولي کې نور لحن
پرستارې ترې خوشنودې، بنه د هر چا په پوښتنه

که دا هسې څوک پیدا شي، د (خوشال) په لاسو راشي
هېڅ تقصیر به یې ونه کا، له یارۍ یې په پالنه

ډاکتر ریحان الله (رحیمي)

تروریست

سترګې توري کړې پخپله
زړګي و باسې له بله
وایه څه مقصد لري ته
زمونږ اخلې ازار څله
ژوند زمونږ دی په خطر کې
ستا د زلفو له کاکله
شونډې ستا قاتلې ښکاري
تروریست یې والله ګله
حسن ښه دی، ښکلا ښه ده
لکه ګلو کې سنبله
ښکلې ټولې ناز ،نخرې دي
ښه پوره له تغزله
ریحان هلته شو مرګونی
چې یې یار ور وکتله

دیدن راوړه

حمیدالله ستړی

مینې ستا یم دردولی دردمند زړه ته مې درمان شه
جګې جګې جفا مه کړه وفا دار شیرین جانان شه
ستا جمال راځنې صبر او طاقت وړی
د فراق په تبه پروت یم په پرسان شه
نه په مینه کې زما یې پوروړی
زه مجنون یم ته لیلی نور چشمان شه
د رقیب په مخ کې لاس په مینه راکړه
او په مکېزه لکه زرکه خرامان شه
ستړی ستا په بلتانه کې لوپه شو
دیدن راوړه ماته شمه فروزان شه.

شکیلا (اوښکه)

غزل

اشنا ګل نه غواړم ګلونه غواړم
خبره نه غواړم شعرونه غواړم
چې زخمي زړوته ټکورونه ورکړي
داسې تاوده تاوده بیتونه غواړم
چې مې ملهم کړي د زړګي ټپونه
له تا رنګین رګین ستونه غواړم
سترګې مې سرې شوې د اشنا له غمه
ساقي اوس راشه ډك جامونه غواړم
اوس درنه ځم د خدای پامان جانانه
لاس په تندي کړه سلامونه غواړم
لیکم په اوښکو ،چې غزل شکیلا
وړي چې تا هغه خوبونه غواړم

حمزه بابا

دا احساس دی د خودۍ کمر زما
دی په ښکته که شته پورته پر زما
چې ستا زړه مې د بې کوره سودا ځای شي
ستا په پت کې دې قربان شي سر زما
د احساس قاصده راغلې، خو رانغلې
ولې وایې نه راځي خبر زما
ستا د زړه صدا ترې ځي که مات مې زړه دی
څه زده؟ څه آینه ساز هنر زما
د حکمت "آینه ستان" یې حیران مه کړه
د جوهر له باره سپك نظر زما
د حیرت کور به خالي د مرآت کور کړ
چې پرې عکس شو مېلمه بشر زما
د فلك ګنبد مې مات نه کړ په چغو
دایره شو د حسرت، سفر زما
چې شجر د عشق مې تاند په ځیګرخون کړ
پوخ شو، پرېوت، د ارمان ثمر زما
نن قاصد جوړ د سیلۍ په اوږو سپور دی
(حمزه) وکړو اسوېلو اثر زما

ګلونه په ډالۍ کې

میهن جان

شریف الله فرهاد

نعمت الله او هادیه جانه

سحر

مرسل جانه

عبدالباسط "نومیالی"

هادیه جانه

ماشوم جان

سباوون جان

سبا، مدثر، حنا او تقوا

محمد ادریس او تقویم الحق

باسط جان، هادیه جانه،
تقوی بي بي او عبدالرافع جان

_ آغاجانه! زامن که مې راسره ډېر ښه وکړي، نو په یوه ښه نرسري هوم (دسپین ږیرو د اوسېدو دولتي ځای) کې به مې دې داخل کړي. له هغوی نه نوره هېڅ تمه نه شي کېدای. ته ووایه، آیا د دومرومنډو ترړو او مینې چې یو پلار یې له خپل اولاد سره کوي، همدا غوښتنه ده، چې په اخره کې دې خپل اولاد خپل پلار د انسانانو په یو فارم کې دېره کړي؟! هغه تر یوه ژور اسویلي وروسته وویل:

_ دل آغا! ګوره، چې د وطنداری او دوستۍ پت راسره وپالې!! زه له خپل انجامه ډېر ډارېږم!

په همدې خیالونو کې وم، چې د پوهاند صیب دوی ښار ته ورسېدم. ښه و، په هډه کې مې راته ملګري انتظار کاوه. دواړه په ټکسي کې کېناستو. ملګري مې راته وویل، چې زه هم څلور پنځه ساعته وروسته د پوهاند صیب له مرګه خبر شوم. هغه ته مې وویل:

_ څنګه، د قبر مبر غم مو کړی؟

هغه په تادی وویل:

_ اوس به یې کوو، کنه!

وروسته مو په دې پرېکړه وکړه چې ښه به دا وي، چې لومړی د پوهاند صیب دوی کور ته لاړ شو او له زامنو سره به یې په ګډه تصمیم ونیسو. هلته چې ورسېدو، نو د پوهاند صیب د کور دروازه پرانیستې وه. د هغه دواړه زامن له دوو نورو کسانو سره ناست وو. د خپګان تاثر مو په څېرو راښکاره شو. له واره مې د یوه سورت په تلاوت پیل وکړ. سورت لا خلاص شوی نه و، چې یو یو افغان او یا اسیایي به سالون ته راننوته. تر دعا وروسته مې په خواخوږۍ د هغه مشر زوی ته مخ ورواړاوه:

_ مستر جان! پوهاند صیب، به چېرته دفن کوو!

زما د دې خبرې سره هغه له خایه پاڅېد، په یوه لوړ ځای ودرېد او په ډېر مینه ناک او موسکو شونډو یې خلکو ته وویل:

_زې له تاسې ډېل تینکس کوم، مای ډیر پلال واز ویري کاینډ. موږ ته په چایلډ هوډ کې هر وخت مني لاګولې.

د هغه په زړه لانورې خبرې وې، چې ما ورته وویل:

_ اوس مو څه تصمیم دی، چې پوهاند صیب چېرته خاورو ته وسپارو؟

له دې سره لومړی موسکی شو او بیا یې په خواږه ډول وویل:

_ مستر ګل آغا! ډېل تینکس. We have finished (کار مو خلاص کړی).

او بیا په منډه کور ته ننوت او یوه توره پلاستیکي خلته یې راوړه او زموږ په مخکې یې په دواړو لاسونو په ډېر ادب کېښوده او بیا یې وویل:

_ دا ډیډ دی! دا موږ ته ډېل ډیر و!

په خلته چې مې لاس وواهه، نو ایرې وې. حیران شوم، چې دا کومه لوبه ده. په تلوار مې ورته وویل:

_ په اسلام کې د مړي ډېر ساتل ښه خبره نه ده او هسې هم دلته خلك وخت نه لري. له دې سره یې خلتې ته لاس ونیو:

_ دا ډیډ دی، We have burnt him early. (موږ لا وختي سېځلی دی.)

له دې سره ناستو خلکو په حیرانتیا وروکتل او ما وویل:

_ ولې ظالمه! پوهاند صیب مو سېځلی ولی دی؟ داسې څوك کوي.

هغه د دې پر ځای چې د موضوع په ارزښت پوه شي، په خپلو خبرو کې دا جوته کړه، چې زموږ ټول ګاونډیان خپل مړي سېځي.

له دې سره ټول خلك د څه شېبې لپاره غلي وو او هر یو په دې فکرمن و، چې پوهاند صیب یې زامنو د هندوانو د رواج په ټېل کې سوځولی او له هغه څه نه چې پوهاند صیب وېره لرله، هغه رښتیني شو. خدای خبر چې د هغه د ایرو کڅوړه به د ګنګا په سیند کې پاشل شوې وي او که تر اوسه به د مستر جان په خونه کې د درناوي په خاطر زوړنده وي!!!

اداره

لیکونه، ځوابونه

د ابرار موسسې محترمو مسوولینو!

السلام علیکم.

محترمو! یوه شپه د ننګرهار له تلویزیون څخه د (پرېوتې څهرې) په نامه یوه ډرامه نشر شوه، چې ډېره بامفهومه او له خوند څخه ډکه او په زړه پورې وه، چې له ما سره یو ځای د ناستو کسانو او لیدونکو د پاملرنې وړ وګرځېده. مګر د ډرامې په پای کې، چې د کارکونکو نومونه ذکر کېده، په منظم ډول ونه لیدل شو او موږ ټولو لیدونکو درك نه شو کړای، چې کومو کسانو په دې ډرامه کې کار کړی، او د چا له خوا جوړه او تنظیم شوې وه. د دوه درې ورځو له تېرېدو څخه وروسته چې مو معلومات تر لاسه کړ او پوښتنه مو وکړه، نو پوه شو، چې د دې ډرامې جوړونکی او تنظیمونکی د ابرار په موسسه کې نورې دندې هم لري، خو د ډرامې له لیدو څخه وروسته زما ملګرو داسې وویل، چې د دې ډرامې د لیکوال او ډایریکټر استعداد د قدر وړ دی، ځکه چې په دې برخه کې یې له نوښت نه کار اخیستی. موږ غیاباً نوموړي ته په دې برخه کې د لابریو غوښتونکي یو.

ښاغلو! یو څه ویل، چې زموږ زړه یې غواړي، تاسې ته یې په تحریري ډول درلیکو، چې زه او زما ملګري ټول د دې ډرامې د لیدلو لېوال یو، مګر دومره پوه نه شو، چې دا ډرامه کومه رسمي بڼه لري، چې پرته د دولتي تلوېزیون څخه خپرېږي او که په شخصي ډول د ویډیو کېسټو او سي ډي له لارې له دوکانونو څخه تر لاسه کېدای شي؟! نو که د دې کار اجازه ستاسې له محترم دفتر نه جواز لري او کوم ممانعت نه وي، نو موږ یې په ډېر درناوي تاسې ته وړاندیز کوو، چې تاسې ښاغلي دا ډرامه د سي ډي له لارې ثبت کړئ، تر څو په ارزانه بیه یې ټول هېوادوال لاس ته راوړي، ځکه زړه مو غواړي، چې موږ یې تل وګورو.

معلم نجیب الله د سنډیګال موسسې چوکیدار د نورو په استازیتوب

ښاغلی ورور معلم صیب نجیب الله خان!

ستاسې له نېکو پېرزوینو نه، چې د ډرامې په برخه کې مو څرګندې کړې، مننه. دا چې پرېوتې څهرې مو خوښه شوې، زموږ اوسېلې مو پیاوړې کړې.

د پوښتنې او غوښتنې په اړه مو باید ووایو، چې د ډرامې په پیل کې په سیستماتیك ډول د ټولو لوبغاړو نومونه، تخنیکي کارکوونکي، لیکوال او لارښود، ټول ذکر شوي. ښایي ننګرهار تلویزیون د نشر او ایډیټ پر وخت پکې کومې کمونې یا زیاتونې کړې وي. دا ډرامه د ابرار موسسې له لارې، د نورو درې

ادارو، چې په جرمني کې دي، تهیه شوي، نو ځکه یې حقوق هم په دوی پورې اړه لري او څوك نه شي کولای، چې پرته د دوی له اجازې نوموړې ډرامه په سي ډي کې ثبت کړي. موږ هڅه کوو، چې دا کار وکړو، تر څو د ټولو هېوادوالو ستونزې په دې برخه کې حل شي او په اسانه او ارزانه بیه یې تر لاسه کړي.

ستاسې د ښه ژوند په هیله.

د ډالۍ مجلې قدرمنو کارکونکو او په ځانګړې توګه د هېواد ښه شاعر، تکړه کیسه لیکونکي او د پرېوتې څهرې لیکوال او ډایریکټر، چې رښتیا هم قلم یې د کاغذ پر مخ تل ښکلا زېږوي، قدرمن ورور حفیظ الله تراب ته سلامونه ډالۍ کوم. زه له نورو خبرو تېرېږم، یوازې دومره وایم، چې ګران حفیظ الله تراب، چې د پرېوتې څهرې په نامه کومه تلوزیوني ډرامه لیکلې، په رښتیا هم چې د ننګرهار تلوزیون له جوړېدو څخه را په دېخوا یوازینۍ مثبت ګام دی، چې ویاړ یې د همده په برخه شو. زه په دې ډګر کې د ښاغلي تراب، دده د ملګرو او نورو هڅونکو د بریالیتوب هیله من یم. دا چې زه له یوې خوا د ننګرهار رادیو تلوزیون د خپرونو مدیر یم، نو له بلې خوا د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د ریس ښاغلي ناکار صیب له خوا د طنز او مزاح د پاچا لقب هم راکړ شوی، نو غواړم، چې په لنډه توګه د پرېوتې څهرې د ډرامې په هکله خپل نظر څرګند کړم:

زما او زما د زوی حامد خاکسار په شخصي نظر دوست الله د خلکو په سترګو کې ډېر ښه وځلېد. په رښتیا هم چې په دې ډرامه کې زموږ د ټولنې ځینې برخې ډېرې ښې انځور شوي او د لوی خدای دا وینا چې: (عزت او ذلت ورکونکی یوازې خدای (ج) دی) پکې ښودل شوې او هغه دوست الله چې خسر (امیر خان) به پرې کبر کاوه او همدارنګه ټولو خلکو به ورته په سپکه کتل، په پای کې د ټولو د درناوي وړ وګرځېد، چې دا ارزښتونه نن سبا موږ ټول په خپله ټولنه کې وینو.

د دې ډرامې د بریالیتوب بله لویه نښه دا ده، چې کله دا د تلوزیون له لارې خپره شوه، نو د دویم ځل خپراوي لپاره یې موږ ته په لسګونو لیکونه راغلل. هماغه و، چې د ګرانو لیدونکو غوښتنه مو ومنله او د نوموړې ډرامې له لیکوال سره مو تلوزیوني او راډیویي مرکه وکړه او هم مو د دویم ځل لپاره ګرانو لیدونکو ته ډرامه نشر کړه.

په رښتیا هم چې د دغې ډرامې ټولې صحنې ډېرې ښایسته او ښې فلم شوي، چې په دې برخه کې د ننګرهار رادیو تلوزیون د یوه تکړه کمره وال ښاغلي انجینر عبدالوکیل وقار د خولو تویول د ستاینې وړ دي. د لوبغاړو په برخه کې یې باید ووایم، چې هر یو د ستاینې او نمانځنې وړ دی، خو ښاغلي عبدالقدیر فولاد چې په دې ډرامه کې کوم چاپلوسانه رول لوبولی، نو په خپل ځای کې ساری نه لري او په ځانګړي توګه د دوست الله په واده کې چې یې په کوم انداز نڅلي، نو فولاد صیب د ډېرې ستاینې وړ دی.

زه په پای کې دومره وایم، چې پرېوتې څهرې ډرامه ډېره ښه لیکل شوې، چې د افغانستان په سینما او تلوزیون کې یو ښه ګام دی. ښاغلی تراب صیب باید په دې لار کې ونازول شي او هغه څراغ چې ده په لاس کې نیولی، باید د پلتې اوتېلو بندوبست یې وشي، تر څو خدای مه کړه دا رڼا مړه نه شي. زه د داسې ډرامو د لړیو د پیل کېدو او ده سره د

نورو لاویانو د یو ځای کېدو په هیله له گرانو لوستونکیو سره خدای پاماني کوم.

د تراب صیب د قلم په څوکه د لاښو اثارو د لیکلو په هیله.

دا دې د خپل ځان قصور دی، په دې پوه شه ملنگ جانه ته
هر څوک د شتمنو یار دی، نه چې د فقیر دی.

محمد زبیر خاکسار منتظر د ننگرهار رادېو تلوېزیون د خپرونو مدیر.

د ننگرهار رادېو تلوېزیون د خپرونو مدیر، ښاغلی خاکسار صیب!

زموږ سلامونه او نېکې هیلې هم ومنئ. لیک مو له دې وېرې چې سبا راپسې څه ونه لیکئ، کټ مټ خپور کړ. دپرېوتې څېرې په برخه کې چې مو کومې پېرزوینې کړې، ځولۍ ځولۍ مننه. رښتیا خبره خو دا ده، چې په دې برخه کې له موږ سره ننگرهار رادېو تلوېزیون پوره شریک دی. که ستاسې مرسته او لاسنیوی نه وی، نو خدای خبر که دا ویاړ مو په برخه شوی وی! زموږ اداره له ننگرهار رادېو تلوېزیون نه د زړه له کومې مننه کوي، چې پرېوتې څېرې یې په لږ وخت کې دوه ځله خپره کړه.

که ستاسې همکاري همداسې راسره وي، لرې نه ده، چې په دې برخه کې موږ خپلو هېوادوالو ته لاکوټلي ګامونه واخلو.

ستاسې د همکاریو په هیله.
سرلوړي اوسئ.

●●●

د ابرار موسسې ښاغلی رئیس او د ډالۍ مجلې مسوول مدیر تراب صیب!

زموږ تاوده سلامونه اونېکې پېرزوینې ومنئ. زه غواړم چې د پرېوتې څېرې تلوېزیوني ډرامې په برخه کې خپل نظر په لاندې توګه څرګند کړم:

موږ چې کله یوه شپه د ننگرهار د تلوېزیون په پردې کله نوموړې ډرامه ولیده، نو فکر مو نه کاوه، چې ګڼې زموږ په هېواد کې دې هم داسې څوک وي، چې دومره لوی کار دې سر ته ورسوي. زه د خپلو ټولو ملګرو په استازیتوب ابرار موسسې او په ځانګړې توګه د دې ډرامې لیکوال ښاغلی حفیظ الله تراب او د ده ملګرو ته مبارکې ورکوم، چې په دې شرایطو کې یې دومره ستر کار تر سره کړ. رښتیا هم چې نوموړې ډرامه د خوږې پښتو لپاره لوی خدمت دی. همدارنګه په دې ډرامه کې دوست الله، مامدي دوکاندار، امیرخان او نثار دومره ښه کار کړې، لکه په دې فن کې چې یې تر دې دمخه ډېره تجربه وي. زه دغو ټولو ورونو ته د دوی د بري مبارکي وایم. په پای کې هیله من یم، چې دې کار ته همداسې دوام ورکړ شي، ځکه په دې وخت کې ډرامه تر بل هر څه زموږ د ټولنې په پرمختیا کې رغنده رول لوبولای شي.

د همدې لړۍ د دوام په هیله.
شېرشاه احمدزی ـ جلال آباد.

●●●

قدرمن ورور احمدزی صیب!

زموږ سلامونه هم ومنئ. د ډرامې له ستاینې او خوښېدنې نه مو ډېره مننه. که ستاسې په څېر ملګرو ملاتړ او هڅونه راسره وي، نو لرې نه ده چې د نورو هېوادونو په څېر زموږ په وران ټاټوبي کې به هم دا هنر پرمختګ وکړي.

ستاسې د لاسرلوړۍ په هیله.

●●●

د نړیوال روغتیایي سازمان (W.H.O) له اداري نه ګران ورور ډاکتر صیب ګلاخان ایوب احمدزی لیکي:

ګران ورور تراب صیب!

ټولو نه مخکې تاسې او د ډالۍ مجلې کارکونکو ته د زړه له تله سلامونه وایم.

عزتمنو! تېرو ورځو کې مې د ابرار موسسې په نوښت د ننګرهار د تلویزیون په پرده د پرېوتې څهرې په نامه ډرامه ننداره کړه. هماغه و، چې زه یې وهڅولم، تر څو د نوموړې ډرامې په برخه کې یو څو کرښې تاسې ته ولیکم؛

ما چې کله دا ډرامه ولیده، نو له خوښۍ نه په جامو کې ځکه نه ځایېدم، چې په دې لنډو تنګو حالاتو کې د داسې یوې افغاني ډرامې برابرول، چې له ډېرو خواو یوه په زړه پورې او پیغام لرونکې ډرامه وي، یوه لویه خبره ده. زه فکر نه کوم، چې تر اوسه دې داسې یوه هنري ډرامه په افغانستان کې جوړه شوې وي.د دې ډرامې په لیدو مې داهیله پیدا شوه، چې که خیر وي، نو لرې نه ده، چې زموږ هېواد به هم په دې برخه کې د نورو سره سیال شي. خدای دې وکړي، چې دولتي چارواکي او نورې بهرنۍ ادارې په دې برخه کې له ښاغلي تراب صیب سره مرسته وکړي، تر څو د وخت دغه مهمه غوښتنه (ډرامه)، چې په اوسني پېر کې ورته زموږ ټولنه شدیده اړتیا لري، تر سره شي، خو یو وړاندیز، چې زه یې لرم دادی، چې پکار ده په راتلونکو ډرامو کې باید پکې ښځې هم ونډې ولري، تر څو دا تشه ډکه شي. زه د داسې هنري ډرامو په برخه کې هر راز شونې مرستې ته تیار یم.

والسلام.

●●●

ګران ورور ډاکټر صیب ګلاخان احمدزی!

هیله ده، چې زموږ سلامونه به هم ومنئ. تاسې چې د پرېوتې څېرې په برخه کې زموږ کومه ډاډینه کړې، یوه نړۍ مننه کوو. همدارنګه مو چې د مرستې ډاډ راکړی، زموږ ارادې یې لا پیاوړې کړې. موږ هم هڅه کوو، تر څو که خدای کول په راتلونکیو ډرامو کې ښځو ته پکې ځای ورکړو. لرې نه ده، چې ستاسې ټولې هیلې په دې برخه کې رښتینې شي.

احساسات مو لا پیاوړې اوسه.

●●●

له ننګرهار نه ښاغلی استاذ پوهنمل جانس خان زړن تر سلامونو وروسته لیکي، چې پرېوتې څهرې یوازې د ده ،نه بلکې د ټولو نارینو، ښځو او ماشومانو خوښه شوې او خلک یې د بیا بیا لیدو هیله لري. همدارنګه یې د دې ډرامې د لیکوال هڅه او هاند ډېر ستایلی او غوښتنه یې کړې، چې پکار ده، چې د معیوبینو د حقوقو مراعات کولو ته له همدې لارې دوام ورکړ شي. هغه دغه هڅه په دې ستایلې، چې په لومړي ځل معیوبینو ته په هنري برخه کې زموږ په ټولنه کې ځای ورکړ شو. سربېره پردې یې غوښتنه کړې، چې په راتلونکې کې په داسې ډرامو کې باید ښځو ته هم ونډه ورکړل شي. استاذ د ډرامې د ستاینې په یوه برخه کې لیکي،چې نوموړې ډرامه د بشري لوړ احساس او همدردۍ له مخې لیکل شوې.

ډالۍ د دغه محترم او پیاوړې استاذ له نېکو پېرزوینو نه مننه کوي او په دې ویاړي، چې د نوموړې په څېر زموږ زده کړې او په هنر پوهو خلکو دا ډرامه، چې تر اوسه لا زموږ په هېواد کې د دې ژانر ماشومه خرپوڅې کوي، خوښه کړه او موږ ته یې د دې ډاډ راکړ، تر څو په راتلونکې کې تر دې په زړه پورې او د ټولنیز شعور په ویښولو کې ګټورې ډرامې خپل اولس ته وړاندې کړو. د ښځو د ونډې په برخه کې باید ووایو، چې رښتیا هم پرته د ښځو له شریکېدنې هر څه نیمګړې ښکاري، خو په خواشینۍ سره

زموږ ټولنه لاتر اوسه په درانه خوب ویده ده. خدای دې وکړي چې په دې برخه کې هر څوك خپل مسولیت ادا کړي. موږ به هڅه وکړو، چې پرېوتې څهرې د دوی د غوښتنې له امله په ډالۍ کې چاپ کړو.

د دوی دلا همکارۍ په هیله.

●●●

له جلال اباد ښار نه خور نداجانې په خپل لیك کې د پرېوتې څهرې ډرامه ډېره خوښه کړې او دا یې د ننګرهار تلویزیون او ټول افغانستان لپاره په هنري برخه کې ستر بری بللی او همدارنګه یې د مامدي دوکاندار رول ډېر خوښ کړی. سربېره پر دې یې هیله کړې، چې په ډرامو کې باید ښځې هم ونډه ولري. موږ د دې خور له احساساتو مننه کوو، چې ډرامه یې خوښه کړې. که خیر وي، د دوی دغه بله غوښتنه به هم په راتلونکې کې تر سره شي.

د دوی د سوکاله او خوشاله ژوند په هیله.

●●●

د پېښور له زرګراباد نه ښاغلی ورور ډاکټر سید داود پاچا صیب موږ ته له سلامونو وروسته لیکي:

پرېوتې څهرې یوه بریالۍ او په زړه پورې ډرامه ده. د خوښۍ ځای په دې دی، چې په داسې شرایطو کې چې په هېواد کې لا دې ډول هنري کارونو ته شرایط برابر نه دي، خو ددې سره سره داسې یوه ډرامه چې له هره پلوه دې پوره وي، برابرول، یو لوی خدمت دی. زه د ابرار موسسې مشر او په ځانګړي توګه د دې ډرامې لیکوال ته مبارکي وایم، خو غوښتنه مې دا ده، چې که چېرې دا ډرامه په سي ډي کې ثبت شي، نو ټولو افغانانو ته به په اسانۍ سره ورسېږي.

ستاسې د نورو هنري بریو په هیله.

●●●

محترم پاچا صیب!

زموږ سلامونه او درناوي هم ومنئ. د ډرامې له خوښېدا او پېزوینو نه مو مننه. موږ هڅه کوو، چې ستاسې غوښتنه پوره کړو.

بریالي اوسئ.

●●●

د پرېوتې څهرې د ډرامې پر لیکوال دې افرین وي.

اورنګ (صمیم)

رښتیا چې له خاورو نه ګلونه توکېږي او زر ترې لاس ته راځي، چې په دې ګلونو او زرو کې لوی لوی حکمتونه او د ښکلاګانو رازونه پراته دي او همدا خاوره د انساني تمدن د پرمختګ یوازینۍ زانګو، مجمر، محراق او مرکز دی.

څوك چې د پیاوړي لیکوال حفیظ الله تراب په څېر د خاورې په قدر پوه شو، ځان او نړۍ ته یې په رڼو سترګو وکتل، د رنګونو، ګلونو او ښکلاګانو ننداره یې وکړه او په هر څه کې یې خوند، رنګ، ښه، بد، کیف او کان ولید، له هغې اغېزمن شو، شعور یې واخېست او الهام پیدا شو، د توضېح او څرګندولو ژبه یې وموندې او د ترسیم هنر، د خاورې، هېواد او خلکو د دردونو څېرکې یې محسوس کړې، لوی او وړوکی، شتمن او بې شتو، چارواکي او بې چارو یې وپېژندل او له توپیرونو ځنې ېې درس واخیست، متاثر شو او د شعور په مرموزه، ورکه او تته نړۍ کې یې د پرېوتې څهرې ننداره وکړه. د هغوی مظلومانه او محکومانه سلګۍ او ویر یې واورېده، په دردونو یې دردمن او په شپو شپو بې خوبۍ یې وګاللې، نو بیا به خامخا لکه تراب د دې جوګه وي، چې د هغوی پرېوتې څهرې د خلکو پام ځان ته راواړوي.

هوکې! د هېواد او خوږې ژبې لیکوال او د ځلېدونکي هنري نثر څښتن حفیظ الله تراب د خپل کمین قلم په ریالیستیکه بڼه او ژبه د حقایقو په جهان کې کې د ننداره کوونکي په توګه پرېوتو او لوېدلو څهرو ته پام شو او په انځورونې او ترسیمونې یې پېل وکړ او په هنرمنو ګوتو یې د دوست الله په څېر لوېدلې څېره هم د دې وړ کړه، چې خوار غریب دې نوکري پیدا کړي!

هو! خبره د ښاغلي حفیظ الله تراب د پرېوتې څهرې د ډرامې په سر ده، هغه چې د لیکوال د تاثراتو مجموعه ده او د زړه بړاس، کومه چې د ننګرهار د تلوېزیون په پرده وښودل شوه. کوم غږ چې له زړه سره تړاو ولري، اثر یې هم پر زړونو پرېوځي. په رښتیاچې ګران تراب د پرېوتې څهرې تلوېزیونې ډرامه همدغه شان خوږه او د حقېقتونو هنداره ده، د باشعوره انسان د زړه او وجدان اواز دی، چې دا هېواد او ټاټوبی په لوېشت لوېشت کې د داسې ناخوالو شاهد دی، کوم چې د تراب صیب په ډرامه کې یې انځورونه تر سترګو کېږي، چې د هر افغان د فکر د تنابونو په تلو راتلو غځېدا او اړ و پېچ کې مصور او منعکس دي، خو یوازې ښاغلی حفیظ الله تراب و، چې د دې کیسې او ډرامې هنري ژبه یې درلوده. موږ ورته همدومره ویلی شو، چې په ګوتو او قلم دې برکت شه، اجر دې پر خدای!!

●●●

پرېوتې څهرې

استاذ لال پاچا ازمون

نوموړې ډرامه که له یوې خوا د یوه معیوب کیسه کوي، نو له بله پلوه د نورو ډرامو په پرتله ځکه ممتاز صفت لري، چې پیغام یې ډېر عالي، ژبه یې هنري او کیسه یې پوره بریالی ده. په دې ډرامه کې نوې څهرې معرفي شوي دي، چې هرې یوې ډېر ښه کار کړی. زما هیله دا ده، چې دا نوې څهرې باید وروزل شي. بله دا چې باید دا ډرامه ټولو افغانانو ته ورسېږي. پکار ده چې کابل تلوېزیون یې زر تر زره خپره کړي. زما په اند دا به لومړۍ ډرامه وي، چې د کابل له تلوېزیون نه به یې هېوادوال ننداره کړي. زه د دې ډرامې لیکوال او ډایریکټر ښاغلي حفیظ الله تراب او د ده نورو ملګرو ته د دې بریالي هنري خدمت مبارکي وایم او د لا نورو بریاوو غوښتونکی یې یم.

والسلام.

له هغو خلکو نه چې ظاهر یې ښکلی او باطن یې چټل وي او له هغو خلکو نه چې غنم ور ښکاره کوي او وربشې خرڅوي ځان وژغورئ او لیرې ورڅخه لاړ شئ.

"اخلاق روحي"

watches colors, flowers and beauties, and experiences in everything the tasks, color, good and bad, enjoyed it, attained intellectual, managed to explain, sensed the pains of people, country and the land, recognized by elder and small, wealthy and poor, took lesson from difference, impressed and watched Prewuety Sehry in the dark world of intelligence, them like Turab, would be able to draw attention of others to their faded features. Yes, country's sweet spoken and the owner of skillful prose-Hafizullah (Turab), with his realistic pen in the world of realities as a spectator, noticed fallen features and began to drea and describe such countenances; and with his ingenious fingers made propitious the fallen feature of Doustullah to describe that a poor can also find a job.Yes, the statement is about Prewuty Sehry drama of Hafizullah "Turab" which is the collection of his passions was displayed on Nangarhar TV, impressed and affected the heart. In deed; the Prewuty Sehry drama of dear Turab is the mirror of realities, is the voice of heart and conscience of a wise mankind; is the witness and prove misfortunate and oppression which has been played in Turab sahib drama. But it was only Hafizullah Turab who had artistic qualification to display this story and drama. We wish him further success in this direction.*Prewuty Sehry*

Ustad Lal Pacha AZmoon.As mentioned drama illustrates story of a disabled, on the other hand in comparison with other dramas, it is excellent because, its message is sublime, the language is artistic and the story is thoroughly successful. New faces have been introduced in this drama that each one has played greatly. I demend that the new daces should be fostered and encouraged. Further, other Afghans should also access this drama. It is necessary that Kabul Tv may also displayed this drama soonest possible. I think this drama would be the first one to display on Kabul TV. I congratulate the writer and director of this drama-Hafizull (Turab) and his colleagues for this successful artistic services and wishing him further success.

Sent by: Miss. Mursal.

In which words I tell you about
Alas! I am in this universe.
That I am alone.
Because, no one is loving me
like my mother.
That, I am an alone...
I feel sad.
Why he is far away from me.
Because, he is in the heaven...
Oh, I know,
That I am alone...
How was he? It is open mystery.
Where is he! God better knows.
And, where I am in the world.
Who will answer my question?
That why I am alone...
Tell me God?
Tell me God?

From Nangarhar University Mr. Janas Khan after offering greetings writes that "not
only I, but men, women and youth all like Prewuty Sehry, and the people demand they better watch it again. Likewise, praised efforts and struggle of its writer, and applied that the observance of rights of disabled be displayed through this program. He praised this endeavors because for the first time disabled were given a chance to play in this artistic presentation.
In addition, he demanded in such artistic performances. Ustad while praising a protion of the drama writers that mentioned drama has been prepared on the basis of high- human sense and condolence.
Dalay appreciate good willing of this reverend Ustad and being proud that like him, our students and art- loving people liked this drama, and assured us to offer people valuable dramas that may result in awakening social conscious of the society. Regarding participating of women we should express that without inclusion of women, everythings would be incomplete, but unfortunately, our society as yet, has not stepped up this ladder; and are still drowsy.
We hope that everybody fufill their obligation. We will try to print Prewuty Sehry, as they want, in Dalay magazine. In the hope of their further cooperation.

●●●

From Jalalabad city Miss. Neda Jan through her letter, liked Prewuty Sehry dram and this a great success for Nangarhar TV and all Afghanistan in artistic area. Likewise, she likes the role of Mamad shopkeeper. Besides that, demanded that women may also be included in these dramas. We appreciate the feeling of this sister who liked the drama. We are trying to take care of her second desire in future.

Wishing her a tranquil and prosperous life.

●●●

From Zargar Abad of Peshawar, brother Dr. Sayed Dawood Pacha sahib, after greetings writs: Prewuty Sehry is a successful and attractive drama. It is pleasing, because preparation of such artistic efforts in circumstances that do not allow to producing this type of objects, is a great service. In congratulate chairman of AABRAR organization especially the writer of this drama. But I want to make this drama accessible to all people through recording in CD device.
Reverend Pacha sahib!
Accept our complements and respect. Thanks for enjoying the dram. We will be trying to provide your will.

Be successful.

●●●

Many thanks to the writer of Prewuty Sehry drama,

(Awrang Samim) its true that flower comes out of earth and gold can be obtained from, and these flowers and gold contain great philosophy and mystery of beauty; and it is this soil that is the center of censer and cradle of human civilization development. Anyone who like Hafizullah (Turab) noticed the importance of soil, looked to himself and to the world with opened eyes,

Director of AABRAR organization and editor in- chief of Dalay Magazine-Turab sahib!

Accept our warm compliments and good wishes. I want to express view on Prewuty sehry as follows. When at a night we watched mentioned drama on Nangarhar TV screen, we didn't think some one would be available in our country who could write such a great meaningful subject. I on behalf of all friends congratulate AABRAR. Organization, particularly the writer Mr. Hafizullah (Turab) and his colleagues thatin such tightened circumstances undergone this valuable aspect. In deed mentional drama is a great service to sweet Pashto likewise, in this drama-Doustullah, Mamadi, shopkeeper, Amir Khan and Nesar performed their parts as good thought as they had sound experience in the past. I congratulate them all for their success. I finally hope to continue this object, because at present, drama can play great role in development of the country more then any thing else. With the hope of continuation of such program. Sheer Shah, Ahmad Zai Jalalabad.

Dear brother Ahamd Zai sahib!

Accept our compliments too. Thank you for paying tribute to and like the drama. If I enjoy your and your friends cooperation and encouragement, be sure that like many other countries, this art will promote also in our ruined country.

With regards,

●●●

Our dear brother Dr. Gula Kahn from WHO writes:

First of all convey my greetings to Dalay Magazine personnel.

Reverend! I some days back watched Prewuty Sehry drama on Nangarhar TV screen; that stimulated me to write some lines about.

I was very much excited when watched this drama, because preparation of an Afghan drama especially at his short time was very interesting from many view points, was a great phenomenon. I do not think such an attractive drama, as yet being adopted in Afghanistan.

By watching this drama, I am hopeful it won't be far that our country could compete with others in this area. God grant that governmental bodies and other foreign organizations contribute with Turab sahib in this regards, so that this demand of the time (Drama), that in current century it is one of the requirements of our society be accomplished. But I propose that women should also take part in dramas to fill up this gap. I am ready to contribute practicably in such artistic dramas.

Wassalam.

Dear brother Dr. Gula Khan Ahamd Zai!

Hope to accept our compliments. Thanks for your encouragement about Prewuty sehry drama. It strengthened our efforts as you ascertained us of your assistance. We too try to be accompanied by women in our future dramas. It is near to accomplish this task.

Wishing you success.

●●●

Nangarhar TV that its honor rests on him.

I whish him and his colleagues further success in this area. On the one hand, I am director of publication of Nangarhar TV program.; and director of the faculty of languages and literature of Nangarhar University Nagar sahib, has given me the title of the king of scoffing and jest , on the other, would like to briefly express my opinion on " Prewuty Sehry":

In my and my son- Hamid Khaksar personal view, Dostullah played greatly in the eyes of spectators. The drama really presented some portion of our society, and express of Almighty Allah as saying the giver of (Glory and hardships is only God) was precisely played there in and the Doustullah whose father-in- law Amir khan was looking him down, and all people regarded him down, finally, all honored him, that all such values would soon be observed in our society.

Another sign of success of this drama is that: when this drama was displayed through TV, then we received tens of letters for its replay so, we accepted demand of our watchers and set up TV and radio interview with the writer of said drama and also reruned the drama for our dear spectators.

All sages of this drama were really photographed beautifully and properly; that effort and struggle of Nanagarhar TV cameraman- Engineer Abdul Wakil (Weqar) is praiseworthy. Regarding the players I would like to say that all of them deserve honor; but Abdul Qadir (Fulad} who played adulate role in this drama, is obviously matchless; and especially, his dancing in the wedding of Doustullah, is praiseworthy.

I lastly say that " Prewuty Sehry" drama has been written very precisely that is a good step in cinema and TV of Afghanistan. Mr. Turab should be rewarded in this respect; and fuel be provided to the lamp he holds in his hand in order to keep the lamp luminous. I in the hope of beginning such dramas and together with that the unification of other followers, would like to say good bye to dear readers. With the hope of Turab sahib further good writing.

Zubair Khaksar
Director of Nangarhar radio and TV program propagation.

●●●

Nangarhar TV/ publishing director- Mr. Khaksar sahib!

Accept our good willing and greetings. We published duplicate of your letter in the fear not to say any joke against us in future. Thanks a lot for your positive attitude toward " Prewuty Sehry" truly speaking, Nangarhar radio/ TV shares greatly in times way with us. If you didn't help, we might probably could not succeed. Our office appreciate by heart your cooperation that in less time propagated " Prewuty Sehry" twice. If your cooperation continues with us, it is not far we could provide our countryman with such informative objectives.

With the hope of your cooperation.
Be successful.

●●●

Letters-Replies

Ravened responsible of AABRAR organization!
Assalm-o- Alaikum.

At a night a dram in the name of " prewutey sehrey" (fallen features) was displayed on Nangarhar TV, while was very informative and interesting; that other audience including me lime it very much. But at the end of the show, the names of players were not visible properly; and all of us could not understand who played this drama; and who arranged and prepared the drama.

But after passage of 2-3 days we found that the maker and regulator of the drama has had many other responsibilities in AABRAR organization. After watching the drama, my friends said that the talent of the writer and director of this drama is praiseworthy, because in this part he implemented good and splendid initiatives. We in his absence wish him future successes in this respect.

Reverends! Something's that we want to submit to you in writing is that I and my friends are very eager to watch this drama, but didn't understand- whether this drams is formed issue which publishes governmental TV or can be obtained personally from private video and CD shapes? So, if your office can grant permission and there isn't any restriction, then we respectively propose to register this drama through CD that all country men would access to obtain it cheaply.

Najubullah (teacher), chawkidar at Sundigal organization- on behalf of others.

●●●

Dear brother Najibullah khan!
Thanks for your good- willing regarding the drama. Your interest in " Preutey Sehry" strengthened our patience.
Regarding your inquiry and application, we would like to say that at the beginning of the drama the names of all players, technical workers, writer and the director were systematically declared; Nangarhar TV might have made some additions or reductions at the time of publishing and editing. This drama was provided through AABRAR organization with collaboration of three offices located in Germany, and therefore all rights reserved to them; and no one can record the drama in CD without permission.
We are trying to solve this problem to satisfy our compatriots in this regards.
Hoping your good life.

●●●

